
د دعوتِ اسلامي په ديني خدماتو کښې پرله پسې د حلو خلو په ٤١ کالو پوره کېدو باندې خصوصي رساله

# فيضانِ دعوتِ اسلامي

پښتو



پيشکش: ماهنامه فيضانِ مدينه (دعوتِ اسلامي)

# فيضانِ دعوتِ اسلامي

## يومِ دعوتِ اِسلامي 2 ستمبر 2022ء

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ وَنُسَلِّمُ عَلٰى رَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْكَرِيْم

د الله پاک او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فضل و كرم سره په 2ستمبر 2022ء به د "دعوتِ اِسلامي" د جوړيدو 41 كال پوره شي،اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! د دعوتِ اسلامي شروع په ستمبر 1981ء د كراچۍ نه اوشوه.

د الله كريم په فضل و كرم سره دعوتِ اسلامي كم و زيات 41 كالو په سفر كښې د سياست، ريليانو او دهرنو او هړتال وغيره نه د لرې پاتې كيدو سره په مثبت انداز كښې د دين هغه كار كړے دے د كوم چې مثال موندل ګران دي. د كراچۍ نه شروع كړے شوي دعوتِ اسلامي يواځې پاكستان ته نه بلكه ټولې دنيا ته اورسيدو او نن (يعني په 2022ء) كښې ❀ د دعوتِ اسلامي ديني كار د 80 نه په زياتو شعبو كښې خور شوے دے ❀ دعوتِ اسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جُماتونه، په سوونو د فيضانِ مدينه (مدني مركزونه) جوړ كړي دي ❀ هلكانو او جينكو ماشومانو ته د بيل بيل تعليمِ قرآن وركولو د پاره تر اوسه پورې تقريباً 5946 مدرسة المدينه جوړ كړے شوي دي، په كومو كښې چې تقريباً 262112 (2 لاكه 62 زره 112) هلكانو او جينكو ماشومانو ته د قرآنِ كريم

**حفظ او ناظرې مفت تعليم** ورکولے شي. 🌸 د نابينا ماشومانو د پاره هم بيلې **مدرسة المدينه** جوړې کړے شوې دي د شروع نه تر اوسه پورې تقريباً 439940 (4 لاکه 39 زره 940) ماشومانو د ناظرې او د قرآنِ پاک حفظ پوره کړے دے 🌸 عِلمِ دين ته د ترقئ ورکولو (د عالم او عالِمَه کورس کولو) د پاره بيلې بيلې **جامعة المدينه** جوړې کړے شوې دي. تر اوسه پورې تقريباً 1247 **جامعة المدينه** (بوائز، ګرلز) جوړ کړے شوي دي، په کومو کښې چې تقريباً 96921 (96 زره 921) نارينه او زنانؤ طالب عِلمانو درسِ نظامي (د عالم او عالمَه کورس، فيضانِ شريعت کورس) مُفت کورس کولے شي. تراوسه پورې تقريباً 16117 (16 زره 117) ګسانو د عالم او عالِمَه کورس، فيضانِ شريعت کورس پوره کړے دے او په لکونو د حافظ، قاري، امام، مبلغ او معلّم، عالم او مفتي جوړولو سره سره د اُمَّت د اِصلاح او کردار سازئ کار روان دے. 🌸 په لکونو عاشقانِ رسول (اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې) د دې **مدني مقصد "ما ته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي"** د حاصلولو په کوشش کښې لګيا دي. 🌸 ګنړ شمير دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي، چرته چې مفتيانِ کرام د اُمت په شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي.

په **المدينةُ العلميه** ***(Islamic Research Center)*** کښې په مختلفو موضوعاتو باندې بيشميره ديني کتابونه چاپ کړے شوي دي 🌸 فيضان آن لائن اکيډمي (بوائز، ګرلز جوړه ده د کومې په ذريعه چې آن لائن عالم کورس، قرآنِ پاک (حفظ و ناظره) ښودلے شي، د 30 نه د زياتو آن لائن کورسونو په ذريعه په 77

ملکونو کښې خلقو ته په خپلو کورونو کښې د علمِ دين رنړا رسولے شي. د انګلش ميډيم اسلامک اسکولنګ سسټم په نوم د ”دارُ المَدينه“ په ذريعه په زرګونو ماشومان او ماشوماني د دين او دُنيا علوم حاصلوي.

❀ د ”مدني چينل“ په ذريعه په 6 لوئے سيټلائټس باندې په اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې د دين ښه خدمت روان دے. ❀ د **FGRF** په ذريعه د خير ښيګړې او سماجي خدماتو سلسله هم روانه ده او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غم زپلي اُمت د 26 لاکو نه د زياتو کورَنو په مختلفو وختونو کښې يواځې مدد نه دے شوے بلکه په دغه حالاتو کښې خاص طور د تهيليسيميا او عام طور نورو مريضانو ته د وينې بيګونو جمع کولو داسې کارنامه کړې ده د کومې چې مثال نه ميلاويږي. د دې ليکلو تر وخته پورې د وينې تقريباً د 53 زرو نه زيات بيګونه ورکړے شوي دي.

**راځئ!** چې مونږ ټول په شريکه د نيکئ د دعوت عام کولو په دې عظيم کار کښې د دعوتِ اسلامي سره الله او رسول خوشحاله کړو او د جنَّت حقدار جوړ شو.

الله کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں
اے دعوتِ اسلامی تِری دُھوم مچی ہو

**فيضانِ دعوتِ اسلامي ستمبر 2022ء**

❀ ❀ ❀ ❀ ❀

# باني دعوتِ اسلامي او دعوتِ اسلامي

مولانا ابو رجب محمد آصف عطّاري مدني

د کامياب ليډر يو صِفت دا هم دے چې هغه د کومو کارونو تقاضا يا توقع د خپلو پيروکارو نه کوي، ځپله هم په هغې کښې شامل شي يا د هغې حوصله لري. د دې سره په هغوئي پسې د تلونکو حوصلې اوچتيږي، د کار کولو جذبه زياتيږي، د هغوئي د خپل ليډر سره تعلق نور هم مضبوطيږي او هغوئي د هغه د سترګو په اشاره چليدل شروع کړي. زمونږه په زمانه کښې د عالمي ديني ليډر بانيِ دعوتِ اسلامي، شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ډيرو ښه خوبيانو کښې يوه ښه خوبي دا هم ده چې هغوئي په دعوتِ اسلامي کښې شاملو خپلو مينه والو ته شايد چې د داسې کار کولو ترغيب ورکړے وي په کوم کښې چې هغوئي ځپله ډائريکټ (يعني براهِ راست) يا ان ډائريکټ شامل نه وي، مثلاً هغوئي ❀ په مدني قافلو کښې سفر اوکړو ❀ د نيکۍ د پاره د علاقائي دورې په دعوت کښې شريک شو ❀ درسِ فيضانِ سُنَّت ئې ورکړو ❀ په هفته واره اجتماع کښې شريک شو او بيانونه ئې هم اوکړل ❀ د فنډنګ (عطياتو جمع کولو) په کوششونو کښې ئې خپله ډيره حصه واخستله ❀ ډير ديني کتابونه ئې اولوستل ❀ د ژبې، سترګو او خيټې

قفلِ مدينه ئي اولګوله ❀ د قفلِ مدينه ورځ ئي اولمَانځله ❀ د اِنفِرادي کوشش په ذريعه ئې د نيک کارونو ترغيب ورکړو ❀ د جامو، عمامې (يعني پټکي) خوراک څښاک، ګرځيدو، کښيناستلو، خبرو کولو وغيره په سنّتو او آدابو ئې عمل اوکړو ❀ د غم زپلو سره ئې لاس نيوه او تپوس اوکړو، د هغوئي د پاره ئې دعاګانے اوکړې او د مسلمانانو د غم او خوشحالو په موقعو کښې ئې حِصَّه واخستله. هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پخپله فرمائي: د ترغيب د پاره پوره ترغيب والا جوړيدل وي.

اے عاشقانِ رَسُول! باغوان ته خپل باغ ډير خوښ وي، هغه د هغه باغ د خاځونو او پانړو پورې حفاظت د خپلو بچو په شان کوي، داسې د دعوتِ اسلامي هم د بانيِ دعوتِ اسلامي (يعني د دعوتِ اسلامي د جوړوونکي) يو قسِم له باغ دے، نن د دې باغ او سپرلي په شا مرکزي کردار د بانيِ دعوتِ اسلامي حضرت علامه محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دے، د هغوئي بيک ګراؤنډ د يوې پير خانے، دارُ الافتاء يا مدرسے سره پيوست نه دے بلکه د هغوئي والد صاحب حاجي عبد الرحمان قادري (مرحوم) په شريعت عمل کوونکے ساده شان انسان وو او د نوکرئ کولو سره ئې د خپلې کورنئ پالنه کوله، د دې باوجود اميرِ اهلِسُنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نيکئ دعوت عام کولو په جذبه د دينِ اسلام دومره لوئے خدمت اوکړو چې څه مثال نشته. زه دا وئيل غواړم چې اميرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ته د

دعوتِ اسلامي تحريک داسې جوړ شوے نه وو ميلاؤ شوے بلکه هغوئي د علمائے کرامو او د مبلغينِ دعوتِ اسلامي په مرستې سره دعوتِ اسلامي ته د ترقئ ورکولو د پاره د خپل ژوند کم او زيات 41 کاله ورکړل، ډير محنت ئې اوکړو، خپل آرام ئې د مسلمانانو د فائدې د پاره قربان کړو خو ستړے نه شو، خندان راغلې ته شول خو مايوسه نه شو، لوږه ئې برداشت کړه، خوب ئې قربان کړو، د لږو سهولتونو سره ئې د سفر سختئ اوزغملې، د تعاون کوونکو خدمتونه منم! خو د دغه تعاون کوونکو فائده مند جوړونکے شخصيت بانـئ دعوتِ اسلامي وو.

زمونږ په معاشره کښې به داسې ډير خلق ميلاؤ شي کوم چې خپل مهارتونه د خپل ځان پورې محدود ساتي، هغوئي دغه کار بل چا ته نه ښائي، د هغوئي سره دا ويره وي چې دا کَس به دا کار د سمولو په ځائے خراب کړي، د دې نه دا ښه ده چې پخپله ئې اوکړم، داسې هغه پخپله هم هغه کار پوره اونکړے شي چې آخر يو کَس به څومره کار کوي! بيا د هغه د بيمارئ يا د دُنيا نه د رخصتيدو په صورت کښې د هغه مهارتونه هم د هغه سره لاړ شي، حالانکه که چا ته د ښودلو د پاره يوه کَهنټه اولګولے شي نو زمونږه ډيرې کَهنټے بچ کيدے شي، او زمونږ نه پس هم هغه کار جاري وي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! بانئ دعوتِ اسلامي امير اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 41 کالو په سفر کښې د تقسيمولو په اُصُولو باندې عمل اوکړو او کار ئې صرف ځان

ته پرېږي نه ښودلو بلکه د کوم ديني کار د پاره چې ورته کوم قابل اسلامي ورور ميلاؤ شو هغه ته ئې ذمه واري اوسپارله او هغه وخت راغے چې د دعوتِ اسلامي ذمه وارانو پوره دائره جوړه شوه، مختلف ډيپارټمنټس جوړ شو تر دې پورې چې د دعوتِ اسلامي مرکزي مجلسِ شوریٰ (Central Executive Committee) جوړه شوه. داسې هغوئي د دعوتِ اسلامي ټول نظام مرکزي مجلسِ شوریٰ ته اوسپارلو کومه چې د کم و زيات 22 کالو نه د بانـئ دعوتِ اسلامي په نګرانئ کښې د ديني کارونو مشري کوي. د دومره زيات ديني کار کولو نه پس هم د هغوئي د عاجزئ انداز دا وي چې "ما هيڅ نه دي کړي، اوس هم ډير څه کول دي."

داسې نه ده چې د دې نظام د جوړولو او د کار جوګه کولو نه پس بانِـئ دعوتِ اسلامي پخپله په قلاره ناست دے او د ريټائرمنټ ژوند تيروي بلکه د هغوئي هره ورځ، د هفتې، د مياشتې او د کال مصروفيات داسې دي چې د د تفصيل په خبريدو سره عقل حيرانيږي، هغوئي د حافظِ ملت حضرت مولانا عبد العزيز مبارکپوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې قول مصداق ښکاري: د زمکې د پاسه کار، د زمکې دننه (يعني قبر کښې) آرام. اَميرِ اَهلِسُنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه نن هم د دعوتِ اسلامي ديني کار په اِنفِرادي اعتبار سره هم د بل مُبَلِّغ نه زيات کوي. دلته به زه صرف د هغه کارونو ذِکر کووم په کومو کښې چې هغوئي پخپله شامليږي.

**مدني مذاکره:** مدني مذاکره د دعوتِ اسلامي ډېر خوندوره او په خلقو کښې مشهور هفته وار ديني کار دے او په مدني چينل لائيو (يعني براهِ راست) نشر کيږي، د دې روحِ روا اميرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دے، د يو رپورټ مطابق اميرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 31 جولائي 2022ء پورې تقريباً په 2068 مدني مذاکرو کښې د زرګونو سوالونو جوابونه ورکړي دي، په ځينو مدني مذاکرو کښې ئې 2 ګهنټے شرکت اوکړو نو په ځينو کښې ئې 4 او په ځينو کښې 8 ګهنټے هم شامل وو، که اوسط ئې راويستلے شي نو د 5000 نه زياتي ګهنټے جوړيږي. مخکښې تر ډيرو کالو پورې مدني مذاکرې د "**ملفوظاتِ عطّار**" په نوم هم کيدلې هغې ته ورکړے شوے وخت د دې نه علاوه دے. هسې خو د هر اتوار شپه د مدني مذاکره شيډول دے خو په خاصو موقعو هم مدني مذاکرې کيږي لکه: د 1 نه 11 محرم الحرام، د 1 نه 13 ربيعُ الاول، د 1 نه 12 ربيعُ الآخر، د 1 نه 6 رجبُ المُرَجَّب، د 1 نه30 رمضانُ المُبارک هره ورځ دوه مدني مذاکرې، د 1 نه 10 ذُوالْحِجَّةِالْحَرَام، په 14 اګست، دې نه علاوه د بزرګانِ دين د عُرس يا د ولادت د ورځو په موقعو هم د مدني مذاکرو سلسله کيږي.

لوستونکو ته زما مشوره ده چې تاسو هم په مدني مذاکرو کښې شرکت کوئ او د عِلمِ دين د لعلونو او د حکمت نه د ډکو ګلونو جمع کولو سره خپل ژوند خوشبوداره کړئ.

**بیانونه:** اللّٰه کریم د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې عاشقِ صادق په ژبه کښې هغه تاثیر اچولے دے چې د هغوئي د خبرو او بیانونو اوریدو سره په لکونو ځلمو او بوډاګانو د توبه کولو سره نیکئ کټل شروع کړي دي او داسې خلقو توبه کړې ده څوک چې د پلار لتو او د جیل تنبو هم نه وو سم کړي. هغوئي د ژوند ورومبے بیان د یو څو ګسانو په مخکښې کړے وو، بیا د مخ په وړاندې تللو سره هغه وخت هم راغلے چې هغوئي د لکونو خلقو غونډې ته هم بیان اوکړو، چې کله به د هغوئي بیان وو نو خاموشي به وه او سعادت مندو به په توجه سره بیان اوریدو. د هغوئي د بیانونو د فیض عام کولو د پاره مخکښې آډیو کیسټ ذریعه جوړه کړے شوه، چې د خلقو غوږونو ته د هغه د کیسټ آواز اورسیدو نو هغوئي د دوئي د بیان د انداز د خلوص په جادو کښې داسې راګیر شول چې بیا ترې د وتلو د پاره تیار نه شول، تاسو ته به د اسلامي ورونړو په شمول د ذمه وارانو یوه کنړ شمیر داسې میلاؤ شي کوم چې د دغه کیسټ د بیانونو اوریدو سره په دعوتِ اسلامي کښې شامل شوې دي. د دې مضمون لیکونکے هم "د قبر ورومبۍ شپه" د کیسټ بیان اوریدو سره په دعوتِ اسلامي کښې باقاعده طور شامل شوے وو. د دغه کیسټ بیانونه اسلامي ورونړو په اِنفِرادي طور واوریدلو او کیسټ اجتماع کښې په یو ځائے کښیناستو سره هم واوریدلو. د امیرِ اهلِسُنَّت په مختلفو موضوعاتو باندې د بیانونو د 911 نه زیاتې

کيسټې جارې شوې. دې نه پس د ويډيو بيانونو سلسله شروع شوه، بيا مدني چينل شروع شو، اوس هم هغوئې وخت په وخت د دعوتِ اسلامي په هفته واره اجتماع کښې خاص بيان کوي کوم چې د مدني چينل په ذريعه په ټوله دُنيا کښې نشر کولے شي.

**کتابونه او رسالې:** اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ په 25 صفر المُظَفَّر 1393ھ/ بمطابق 31 مارچ 1973ء د خپل آئيډيل سيدي اعلٰـى حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په سيرت باندې وړومبۍ رساله ”**تذکرۂ امام احمد رضا**“ اوليکله، بيا د ليکلو سفر څه داسې شروع شو کوم چې تر اوسه پورې روان دے، **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ!** په دغه وخت کښې ئې د ”فيضانِ سُنَّت“ په شان عظيمُ الشّان کتاب هم اوليکلو کوم چې په عوامو او خواصو کښې ډير زيات مشهور شو، بيا چې کله په دې کښې ترميم او زياتے شروع کيدل شروع کړے شو نو بيا د **فيضانِ بِسۡمِ الله**، آداب، طعام، پيٹ کا قفل مدينه، فيضان رَمَضَان، غيبت کی تباه کارياں، نيکی کی دعوت، فيضان نماز په شان غټ او مستقل کتابونه په وجود کښې راغلل، هغوئې د ګناهونو نه د لرې کيدو او نيکو ته د نزدې کيدو په ترغيب ورکولو مشتملې رسالې اوليکلې، د بزرګانِ دين په سيرت باندې مشتملې مختصر رسالې هم د هغوئې د ليکلو د خدمت حصه ده، د ديني شاعرۍ يوه مجموعه وسائلِ بخشش او دويمه ئې د وسائلِ فردوس په نوم چاپ شوه، تر اوسه پورې د چاپ شوو کـم و زيات 142 کتابونو او رسالو

تقریباً 13371 صفحات جوړېږي. لیکونکي په دې پوهېږي چې د لیکلو کار څومره وخت اخلي، څومره طاقت غواړي او څومره توجه غواړي! د هغوئي د لیکلو ښکلا او معیار کتلو سره داسې ښکاري چې لیکونکے به د لیکلو نه علاوه بل هیڅ کار نه کوي، خو الله پاک دې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د بدو سترګو نه اوساتي، د تحریري کار نه علاوه دیني خدمتونو له هم وخت ورکوي.

**پیغاماتِ عطّار:** د بیمارانو تپوس، د غم زپلو سره تعزیت او د خوشحالو په موقعو مبارکي ورکول او دُعا کول، د ډیرې مودې نه د هغوئي معمول دے. د ډیرو مصروفیاتو باوجود نن هم د هغوئي دا معمول بالمُشافه او د آډیو، ویډیو پیغامونو په شکل کښې جاري دے، د کومو د پاره چې تقریباً هره ورځ د ریکارډنګ سلسله وي، دا پیغامونه څومره ډیر جاري کیږي صرف د شپږو میاشتو رپورټ اوګورئ، د شعبه "**پیغاماتِ عطّار**" په ذریعه شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په شپږو میاشتو (د جنورئ 2022 نه تر جون 2022) کښې تقریباً 12295 پیغامونه جاري کړل.

**د مدني چینل پروګرامونه:** امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مدني چینل د مختلفو پروګرامونو د پاره هم وخت اوباسي، مثلاً د کرونا په ورځو کښې ئې په کیدونکي "دلوں کی راحت" په کم و زیات 54 سلسلو کښې شرکت اوکړو. او په سلسله "ماضی کی یادیں" کښې په 7 سلسلو کښې شریک شو،

د وروکي اختر، غټ اختر په موقع د اختر د خبرونو سره سره د تيلي تهون په سلسلو کښې هم شرکت کوي.

**فيس بُک پيج:** د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په فيس بُک پيج باندې د فالوورز شميره تقريباً 45 لاکهـ دے.

هغوئي د دې د پاره وې لاک هم ورکوي او وخت په وخت په خپل فيس بُک پيج (www.facebook.com/IlyasQadriZiaee) باندې هم لائيو راځي.

**د خير ښيگړې په کارونو کښې حصه:** بانيِ دعوتِ اسلامي د FRGF د تحت کيدونکي فلاحي کارونو کښې براهِ راست او بالواسطه هم شامليږي، هغوئي چې د خير ښيگړې د کومو کارونو ترغيب ورکړے دے په هغې کښې يو څو دا دي: د تهيليسيميا د مريضانو د پاره د وينې عطيه، په کرونا وبا کښې په ملک او بهر ملک کښې امداد، د حق رسيدلو په کفن دفن، بوټې نالَول، باران، سيلاب، زلزله وغيره کښې مالي او ميډيکل امداد، خوراک تقسيمول او دسترخوان FGRF، ري هيبليټيشن سينټر (Rehabilitation Center)، مدني کلينک وغيره.

**اهمه خبره:** په آخره کښې دومره وئيل غواړم چې: مَاحَرَّرْتُ فِي شَانِهٖ قَلِيْلٌ عَمَّا هُوَ فِي ذَاتِهٖ يعني څه چې ما د بانـئ دعوتِ اسلامي په باره کښې اوليکل د هغې نه کم دي کوم چې د هغوئي په ذات کښې دي.اَللّٰهُمَّ زِدْ فَزِدْ (يعني الله پاک دې نور برکتونه عطا کړي) آمين.

# د جُماتونو په آبادولو کښې د دعوتِ اسلامي کردار

خوږ آقا، **محمد مصطفٰـی** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدینې ته د هجرت په وخت چې د ټولو نه اوَّل کوم جُمات جوړ کړو هغه د مسجدِ قبا په نوم سره پیژندلے شي، د مسجدِ قبا نه شروع شوې دا سلسله د اسلام د خوریدو سره زیاته شوه او **اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ**! نن په ټوله دُنیا کښې په لکونو جُماتونه موجود دي. پخپله د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان او بزرګانِ دین د جُماتونو په جوړولو کښې ښه پوره حِصَّه واخستله. د بزرګانِ دین په لاره د تللو سره **اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ**! د عاشقانِ مساجد دیني تحریک دعوتِ اسلامي هم د جوړیدو نه تر اوسه پورې په ټوله دُنیا کښې ډیر جُماتونه جوړ کړي دي، د جُماتونو جوړولو دا سلسله تر اوسه پورې روانه ده او **اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْعزیز** تر قیامته پورې به جاري وي.

**د جُماتونو جوړولو مقصدونه:** یاد ساتئ! چې جُماتونه صرف او صرف د پینځه وخته لمُونځونو ادا کولو د پاره نه دي بلکه نور هم ډیر اعمال دي کوم چې مسلمانان په جُماتونو کښې تر سره کوي، **د جماتونو په آبادولو کښې خپل کردار ادا کول پکار دي.** هغه اعمال یعني د جُماتونو جوړولو مقصدونه څه دي؟ د لمُونځونو نه علاوه نورې کوم کارونه دي کوم چې په دې جماتونو کښې ترسره کړے شي؟ په دې باره کښې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د صحابهٔ کرامو عَلیهمُ الرِّضوَان له خوا په مسجدِ نبوي کښې تر سره کړے

شوي هلے ځلے د مسلمان اُمَّت د پاره آئيډيل دي: ✿ معلمِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دغلته اصحابِ صُفّه ته تعليم ورکولو کومه چې د اسلامي تاريخ وړومبئ درس ګاه هم ده ✿ په مسجدِ نبوي کښې به علمي مکالمَے کيدلې ✿ د مسلمانانو د اصلاح او تعميري سرګرمياني به دغلته کيدلې ✿ صحابهٔ کرامو عَليهِمُ الرِّضوَان به په مسجدِ نبوي کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښې شعرونه وئيل ✿ د دې نه علاوه د اسلامي رياست مختلف مُعامَلات به هم په مسجدِ نبوي کښې ترسره کيدل په کومو کښې چې عدالتي فيصلې، د قبائلي سردارانو تګ راتګ، د معاشرتي مسائلو حل، د غزوو [يعني جهاد] تياري، د مالِ غنيمت تقسيم، د مملکتِ مدينه د حالاتو په باره کښې مشورې وغيره وغيره شاملې وې.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زمکه په جُماتونو د ښکلې کوونکي دعوتِ اسلامي د دغه جُماتونو په آبادولو کښې هم ښه کردار ادا کوي چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اِنَّ عُمَّارَ بُيُوتِ اللّٰهِ هُمْ اَهْلُ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ يعني د الله پاک کورونه جوړوونکي الله والا دي. (معجم اوسط، 58/2، حديث: 2502)

د جُماتونو آبادولو په خاطر د دعوتِ اسلامي له طرفه جاري څينې کوششونه د دې مضمون د حصې جوړولو کوشش شوے دے، ملاحظه ئې کړئ!

**دارُ السُّنَّه:** د جُماتونو 24 ګهنټے د آباد ساتلو د پاره د دعوتِ اسلامي تحت په مدني مرکزونو کښې دارُ السُّنَّه جوړ دي چرته چې 24 ګهنټے د دعوتِ

اسلامي مُبَلِّغِين موجود وي کوم چې راتلونکو اسلامي ورونړو ته د حالاتو مطابق احکام او فرائض ښائي، مختلف کورسونه پرې کوي او په مدني قافلو کښې پرې سفر کوي.

**مدارسُ المَدينه بالغان:** چا چې په ماشوم والي کښې د قرآنِ پاک تعليم يا صحيح تعليم نه وي حاصل کړے، ظاهره ده چې د لوئيدو نه پس د هغوئي په مدرسه کښې داخله اخستل يا هغوئي ته په مدرسه کښې داخله ميلاويدل په ذهن کښې نه راتلونکې خبره ده! نو داسې ګسانو ته دعوتِ اسلامي د مدرسَةُ المَدينه بالغان سهولت ورکوي، مدارسُ المَدينه بالغان هم عموماً په جُماتونو کښې لګي چرته چې د زيات عمر ګسان د تجويد سره سره د قرآنِ پاک تعليم حاصلوي.

**درس او بيان:** هسې خو د سحر د لمَانځه نه پس د تفسير اوريدلو او اورولو حلقه لګي په کومه کښې چې د صدر الافاضل حضرت علامه سيد مفتي محمد نعيم الدين مراد آبادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه تفسير خزائنُ العرفان يا د شيخُ الحديث والتفسير مفتي محمد قاسم عطّاري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه ليکلے شوے تفسير صراطُ الجنان نه درسِ قرآن ورکولے شي او د يو يا د يو نه د زياتو لمُونځونو نه پس د فيضانِ سُنّت، فيضانِ نماز، غيبت کی تباه کارياں وغيره يو کتاب نه درس ورکولے شي.

**د لويو [بابرکته] شپو اجتماعات، اعتکاف او عبادتونه:** د دعوتِ اسلامي تحت په يولسمه، دولسمه، شبِ براءت او د شبِ معراج وغيره په موقعو په جُماتونو کښې اجتماعات قائم کيږي، په کومو کښې چې د درس و بيان سره سره د مختلفو عبادتونو سلسله جاري وي او ټوله شپه نفلي اعتکاف هم کولے شي.

**اجتماعات:** د دعوتِ اسلامي تحت د ملک دننه او بهر ملکونو کښې د زيارت په ورځ د ماښام لمَانځه نه پس (په بعضې ځايونو کښې د ماسخُتن لمَانځه نه پس) په مختلفو جُماتونو کښې هفته واره د سنتو نه ډکه اجتماع مُنعقِد کيږي په کومه کښې چې د دعوتِ اسلامي مبلغين د بيان سره سره ذِکر و نعت او اجتماعي دُعا او ټوله شپه نفلي اعتکاف هم کولے شي.

**مدني مذاکره:** هره هفته په عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه کښې د خيالي په ورځ د ماسخُتن لمَانځه نه پس مدني مذاکره منعقِد کيږي په کومه کښې چې عاشقانِ رسول په عقائدو، عباداتو او معاملاتو کښې پيښيدونکي شرعي مسائلو حل د اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه نه حاصلوي، د هفته وارې مدني مذاکرې نه علاوه هم په خاص کرے شوؤ موقعو باندې د مدني مذاکرې سلسله کيږي.

**مدني قافلې**: د ملک دننه او د بهر ملکونو خلقو ته د دعوتِ اسلام او علمِ دين رسولو د پاره د مختلفو مودو (مثلاً (3 ورځو/ 12 ورځو / يوې مياشت / 12 مياشتو) د دعوتِ اسلامي مدني قافلے د الله پاک په لاره کښې سفر کوي، په قافلو کښې شرکت کوونکي عموماً په جُمات کښې قيام کوي او د تعليم او تَعَلُّم په ذريعه د جُماتونو ښکلا او ښائست بحال ساتي. د درس او بيان، د فرائض و سُنّت د تعليم او د لمُونځ عملي طريقے سره سره تعليمي او تربيتي هلے ځلے د مدني قافلې ښکلا وي.

**مدني مشورې**: د دعوتِ اسلامي تحت کيدونکے ديني کار د ښه نه د نور ښه کولو په لور د بوتللو د پاره ذمه واران په مختلفو موقعو مشورې کوي، دا مشورې عموماً په جُماتونو کښې منعقِد کيږي په کومو کښې چې د ديني کارونو جاج، د ذمه وارانو په مختلفو شعبه جاتو کښې بدلئ او ټاکنې، کار په نوره ښه طريقه د چلولو د پاره د تجويزونو او مشورو سلسله وي.

**جدا جدا علمي او تربيتي کارونه**: د دې نه علاوه عاشقانِ رسول په مختلفو جماتونو کښې نوافل مثلاً اشراق، څاشت، تحيةُ الوضو، تحيةُ المسجد، او صلوةُ التّوبه ادا کوي، په مختلفو ځايونو کښې د پيشمني اجتماعات منعقِد کولو سره د جُماتونو د آبادولو کار ترسره کوي.

******

# د عوامو او خواصو شرعي رهنمائي او دعوتِ اسلامي

## Shariah guidance of the peoples and Dawateislami

تحرير:مولانا سيد بهرام حسين شاه عطّاري مدني

**د علم والوو نه پوښتنه اوکړئ:** الله پاک ارشاد فرمائي: فَسْـَٔلُوْۤا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ترجمۀ کنز الايمان: اے خلقو! د علم والؤ نه پوښتنه اوکړئ که چرې ستاسو سره علم نه وي. (پ17،الانبيآء:7) په دې آيت کښې نه پوهيدونکي ته د پوهه کَس نه د پوښتنې کولو حکم شوے دے ځکه چې د ناواقفه د پاره د دې نه علاوه بله لاره نشته چې هغه د پوهه لرونکي نه معلومه کړي او د جهالت د مرض علاج هم دغه دے چې د عالم نه پوښتنه اوکړے شي او د هغه په حکم باندې عمل اوکړے شي او څوک چې د خپل مرض علاج نه کوي نو هغه په دُنيا او آخرت کښې ډير نقصان کوي.(صراط الجنان،287/6)

**د علم چابي:** د حضرت سَيّدُنا عَلِـيُّ الْمُرتَظٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے: علم خزانه ده او پوښتنه کول د دې چابي ده، الله پاک دې په تاسو رحم اوکړي پوښتنه کوئ ځکه چې د پوښتنې کولو په شکل کښې څلورو کَسانو ته ثواب ورکولے شي: (1) پوښتنه کوونکي ته (2) جواب ورکوونکي ته (3) اوريدونکي ته او (4) د هغې سره محبت کوونکي ته.

(الفردوس بمأثور الخطاب،80/2،حديث: 4011)

**د شرعي رهنمائي کولو فضيلت:** حضرت امام مالک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د حضرت

رَبيع رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يو روايت بيان کړے دے چې يو کَس ته د لمُونځ مسئلې بيانول د زمکې د ټول دولت صدقه کولو نه بهتره خبره ده او د چا دينې پريشانۍ لرې کول د 100 حجونو نه افضل کار دے. (بستان المحدثين، ص38)

**د علماؤ منصب:** د شرعي رهنمائۍ لوئے اهميت او فضيلت دے، خو هر يو ته د دې منصب سنبالولو اجازت نشته، ځکه امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپلو مُريدانو، متعلقينو او محبت کوونکو ته د دې خبرې ترغيب ورکوي چې په هره مُعَامَلَه کښې د علمائے کرامو نه شرعي راهنمائي اخلئ، د شرعي لار ښودنې نه بغير يو قدم هم مخکښې مه ځئ.

**مدني مذاکره:** اَلْحَمْدُلِلّٰهِ!دعوتِ اسلامي د اُمتِ مسلمه د خير ښيګړې د پاره چې چرته بيشميره شعبه جات جوړ کړي دي نو هلته ئې د اُمَّتِ مُسلِمَه د شرعي رهنمائۍ د پاره هم مختلف شعبه جات جوړ کړي دي. په دې کښې يوه شعبه ”مدني مذاکره“ ده په کومه کښې چې ډير اسلامي ورونړه د مختلف قسمه موضوعاتو مثلاً عقائدو، اعمالو، فضائلو او مناقب، شريعت او طريقت، تاريخ و سيرت، سائنس و طِبّ، اخلاقيات او اسلامي معلومات، د روزمره معاملات او نورو ډيرو موضوعاتو په باره کښې پوښتنې کوي او اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه شرعي رهنمائي کوي او جوابونه ورکوي.

**ملفوظاتِ امیر اهلسُنَّت:** هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: د شروع نه زما په شرعي مسائلو کښې دلچسپي وه، د دې شوق په وجه به زه د مفتي اعظم پاکستان مُفتي وقارُ الدين قادري صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا له تلم راتلم، د دعوتِ اسلامي جوړيدو نه مخکښې به مې د بهارِ شريعت درس ورکولو او خلقو به چې کوم سوالونه کول د هغې جوابونه به مې هم ورکول. داسې دا سلسله د دعوتِ اسلامي جوړيدو نه مخکښې نه راروانه ده بيا چې کله دعوتِ اسلامي جوړه شوه په هغې کښې هم دا سلسله روانه وه، البته د دې نه مخکښې د هغې څه نوم نه وو "مدني مذاکره" نوم ډير وروستو ورکړے شو. الله پاک دې دا قبوله کړي او ما دې د غلطۍ نه محفوظه اوساتي، زما پوره کوشش وي چې زه دا سلسله د علمائے کرامو په موجودګۍ کښې اوکړم چې دغه شان که څه غلطي اوشي نو چې د هغوئي نه ئې اصلاح اوکړے شي. (ملفوظات امیر اہل سنّت، قسط 225، ص12) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د مدني مذاکرو دا سلسله تر اوسه پورې روانه ده او د دې شمير د 2000 نه زيات شوے دے. دا مدني مذاکرې د "**ملفوظاتِ اميرِ اهلِسُنَّت**" په نوم سره په ليکلي شکل کښې مُرتب کولے شي. اوسه پورې د "**ملفوظاتِ اميرِ اهلِسُنَّت**" په 7 جلدونو کار سر ته رسيدلے دے، په کومو کښې چې دوه جلدونه د چاپ کولو سره عام کړے شوي دي او باقي پاتې 5 جلدونه د چاپ کيدو په مرحلو کښې دي. د ملفوظاتِ اميرِ اهلِسُنَّت د دې 7 جلدونو 3742 صفحات دي، په کومو کښې

چې تقريباً 4805 سوالونه او د هغې جوابونه دي او په نورو جلدونو کار کول هم په اهدافو کښې شامل دے.

**دارُ الافتاء اهلِسُنَّت:** دعوتِ اسلامي د عوامو او خواصو د شرعي رهنمائۍ د پاره په ټول ملک کښې په مختلفو ځايونو باندې "**دارُ الافتاء اهلِسُنَّت**" هم جوړ کړي دي چرته چې مفتيانِ کرام په ليکلي، زباني، فون او نورو ذريعو د مسلمانانو د رهنمائۍ د پاره کار کوي. تر دې ليک تر وخته پورې هره مياشت کم و زيات د 700 نه زياتې فتوے دارُ الافتاء اهلِسُنَّت نه جاري کړے شوې دي او تر اوسه پورې د يو نيم لاکھ نه زياتې ليکلې فتوے جاري کړے شوې دي. د اي ميل ايډريس (darulifta@dawateislami.net) په ذريعه هره مياشت د کم و زيات د دوه زرو سوالونو جوابونه ورکولے شي. د فون په ذريعه د پاکستان، يو کے، يورپ، امريکې او د ټولې دُنيا مسلمانانو ته هره مياشت د کم و زيات د خلورو زرو نه د زياتو سوالونو جوابونه ورکولے شي. هره مياشت دارُ الافتاء اهلِسُنَّت ته راغلو پوښتنو کوونکو ته بالمُشافه د ورکړے شوو زباني جوابونو شمير کم و زيات لس زره دے. د دعوتِ اسلامي په آفيشل پيج او د مدني چينل په پيج باندې هم مفتيان کرام د لائيو (براهِ راست) د سلسلے په ذريعه د خلقو شرعي رهنمائي کوي. د دې نه علاوه د عوامو او خواصو د ضرورت وړاندې وخت په وخت د دارُ الافتاء اهلِسُنَّت له خوا مختلف کتابونه او رسالې مثلاً " مختصر فتاوٰی اهلِسُنّت، احکام زکوٰة،

27 واجباتِ حج او تفصيلي احکامو، په لمُونځ کښې د فتحے مسائل، ويلنټائن ډے (د قرآن و حديث په رنړا کښې)،په کرسۍ د لمُونځ کولو احکام'' جاري کولے شي.

**مجلسِ تحقيقاتِ شرعيّه و شريعه ايډوائيزري بورډ (افتاء مکتب)**: دعوتِ اسلامي عوامو او خواصو ته د راپيښيدونکو جديد مسائلو د حل د پاره ''مجلسِ تحقيقاتِ شَرعِيَّه'' جوړه کړې ده. د دعوتِ اسلامي د ټولو کارونو په شرعي اعتبار سره د نګرانۍ د پاره شريعه ايډوائيزري بورډ (افتاء مکتب) هم جوړ کړے دے کوم چې د دعوتِ اسلامي په جيد عُلَمائے کرامو او مفتيان عظامو باندې مشتمل دے. اللّٰه پاک دې د دعوتِ اسلامي دا کوششونه په خپل دربار کښې قبول کړي او نوره ترقي دې ورته عطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**استاذُ العلماء حضرت علامه مولانا مفتي محمد ابراهيم قادري** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: اللّٰه تعالیٰ دې د حضرت اميرِ اهلِسُنَّت سره ښه اوکړي چا چې د دعوتِ اسلامي په نوم سره داسې ديني اصلاحي ډله جوړه کړه کومې چې د بد مذهبيت د سيلاب مخې ته بند اوتړلو. د کومې سره چې په زرګونو لکونو خلق تړون ساتي او خپل ژوند په اِتباعِ شريعت کښې د تيرولو سره زړونه د رسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مينې نه د ډکولو سره خپلې سينې مدينه جوړې کړې دي.

# د دعوتِ اسلامي تعليمي خدمات

## Educational Services of Dawat-e-Islami

**مولانا راشد علي عطّاري مدني**

په 2 ستمبر کال 1981ء د کراچۍ د کهارادر علاقے نه چليدونکي تحريک "**دعوتِ اسلامي**" د خپل عمر 42 کاله پوره کړل او د دُنيا د 200 نه زياتو ملکونو ته رسيدلے دے. صرف د 41 کالو په موده کښې تقريباً په ټوله دنيا کښې خپل اثر پريښودل د الله کريم په خاص عطا او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاص نظرِ عنايت او د بانـئ دعوتِ اسلامي او د هغوئي د ملګرو او تعاوُن کوونکو د محنت و اخلاص نتيجه ده.

په تيرو 41 کالو کښې دعوتِ اسلامي چې چرته په عاشقانِ رسول کښې د نيکئ دعوت عام کړو، د نيغې لارې نه بے لارې شوې ئې په نيغه لار کړل، غير مسلمو ته ئې د اسلام دعوت ورکړو او ګنړ شمير ئې په اسلام کښې داخل کړل، ځلمي ئې لمُونځ ګزاره او د سُنّتِ رسول پابند جوړولو سره سره د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتو په محبت کښې رنګ کړل او د اوليائے کرامو د لمَن سره ئې اوتړل، نو هلته ئې يو بل لوئے اقدام دا دے چې په زياتو پليټ فارمز ئې "د علمِ دين تعليم" عام کړو.

دعوتِ اسلامي د جهالت د تيارې لرې کولو او د بے عملئ دسپيروالي ختمولو د پاره ئې په تعليمي ميدان کښې څو قسمه خدمتونه ترسره کړه.

د هر عمر ګسانو د پاره ئې مختلف د علم حاصلولو شعبه جات جوړ کړل. د اُمّت جينکو او هلکانو ماشومانو ته د کتابِ مقدس قرآنِ کريم د تعليم ورکولو د پاره ئې مدارسُ المَدينه جوړ کړل. د دعوتِ اسلامي د ټولو نه وړومبئ **مدرسةُ المدينه** په 11 ربيع الآخر کال 1411ھ، په 8 ستمبر کال 1990ء کښې د کراچئ په سبز مارکيټ (شو مارکيټ، ګارډن) کښې جوړه کړه او نن د الله پاک په فضل سره په ټوله دُنيا کښې د جينکو او هلکانو ماشومانو 5947 مدرسې جوړې دي چرته چې د 2 لاکهـ 62 زره 112 نه زياتو هلکانو او جينکو ماشومانو ته د قرآنِ کريم تعليم مفت ورکولے شي. او د شروع نه د ناظرې او حفظ د تعليم حاصلوونکو جينکو او هلکانو ماشومانو شمير د 4 لاکهه 39 زره 940 نه زيات دے.

علمِ دين صرف دا نه دے چې قرآنِ کريم ئې په ناظره اولوستلو يا حفظ ئې کړو بلکه قرآن کريم لوستل، د زده کولو نه پس پرې ځان پوهه کول او د دې د جزئياتو او کلياتو سره د تعلق لرونکو علومو حاصلول هم علمِ دين دے بلکه حقيقي علمِ دين دے. دعوتِ اسلامي اَلْحَمْدُلِلّٰهِ!دې طرف ته هم پوره توجه ورکړه، هم د دې د پاره ئې د علم دين عظيم دولت د **درسِ نظامي** په شکل کښې د ورکولو د پاره په کال 1994ء کښې د کراچئ په علاقه کودهرا کالونئ کښې د جوړې کړے شوې مدرسةُالمدينه نه **جامعةُالمدينه**

شروع کړه. د يو څو ماشومانو او د يو استاذ صاحب نه شروع کړے شوې جامعةُ المدينه نن ډير لوئے **تعليمي نيټ ورک** جوړ شوے دے. د کومې تحت چې صرف درسِ نظامي نه بلکه جديد ډير علمي شعبے جاري دي په کومو کښې چې حديث، فقه او د مختلفو ژبو تخصصات په سر دي، په ستمبر کال 1994ء کښې د شروع کړے شوې **جامعةُ المدينه** نن په ټوله دُنيا کښې 1247 شاخونه دي په کومو کښې چې د 96 زره 921 نه زيات نارينه او زنانه طالب علمانې اعلٰى ديني تعليم حاصلوي او د دې ليک پورې په 241 ځايونو کښې د نارينه او زنانه طالب علمانو **دورهٔ حديث شريف** او په 11 ځايونو کښې تخصصات جاري دي. د **جامعةُ المدينه** د پوره تعليمي خدماتو او تفصيلاتو نه د ځان خبرولو د پاره د "ماهنامه فيضانِ مدينه" خاص شماره "فيضانِ علم وعمل" د **مكتبةُ المَدينه** نه حاصله کړئ.

لونړه د کور عزّت، د معاشرې د سمولو اهمه ستن او د خاندانونو د تربيت اهم رکن وي. دا وئيل به څه مبالغه نه وي چې د يوې لور تربيت د ټول خاندان تربيت دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي چې چرته د زنانۇ او د لونړو صحيح اسلامي تربيت د پاره ګڼړ شمير اقدامات کړي دي هلته ئې د دوئي د تعليم د پاره هم ډير شعبه جات جوړ کړي دي. د درسِ نظامي يعني د عالِمَه کورس نه علاوه د لږې مودې مختلف کورسونه هم جاري دي په کومو کښې چې **فيضان شريعت کورس** ډير مشهور او عام دے.

د جامعاتُ المَدينه نه د درسِ نظامي او د فيضانِ شريعت کورس پوره کوونکو نارينؤ او زنانؤ طالب علمانو شمير اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! د 16 زره 117 نه زيات دے.

خلق غواړي چې د هغوئي بچي علمِ دين هم حاصل کړي او د دُنيا په علومو کښې هم مخکښې لاړ شي خو داسې ماحول او انداز نه ميلاويږي، څومره ادارې داسې دي کومې چې د دين او دُنيا علومو دعویٰ کوي خو په هغې کښې غلبه د دُنيا د علومو وي او په نصاب کښې بعضې وخت داسې مواد هم شامل وي کوم چې د اسلامي عقائدو هم خلاف وي. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د دې هم باقاعده منظم او پوخ حل راويستے دے کومې ته چې د **دارُ المَدينه ايجوکيشن** سسټم او **فيضان اسلامک اسکول** سسټم نوم ورکړے شوے دے. تر اوسه پورې په ملک او بهر ملک کښې د دې تعليمي نظام 185 شاخونو کښې د 38 زرو نه زيات هلکان او جينکۍ ماشوماني تعليم حاصلوي.

دنيا اګرچه ډيره لويه ده خو انټرنيټ او جديد ټيکنالوجئ دا د يو کور په شان جوړه کړې ده کومې ته چې د ګلوبل ويلج نوم ورکړے شوے دے، دعوتِ اسلامي دا ټيکنالوجي د ديني تعليم د پاره استعمال کړه او د ټولې دُنيا مسلمانانو ته ئې د معياري ديني تعليم ورکولو د پاره **فيضان آن لائن اکيډمي** جوړه کړه. د آن لائن پليټ فارم نه د دعوتِ اسلامي د 45 شعبو او 32 تعليمي

کورسونو په ذريعه په علمِ دين زده کولو کښې مصروفه دي.

زمونږ د معاشرې يو سوچ جوړ شوے دے چې شايد باقاعده په ادارو کښې تعليم حاصلول صرف د ماشومانو کار دے حالانکه دينِ اسلام خو د هر عمر کسانو ته د علم حاصلولو تلقين کوي. دعوتِ اسلامي د دې معاشرتي سوچ نظر کښې د ساتلو په غير ادارتي انداز کښې هم د تعليمِ دين اهتمام اوکړو هم داسې هغه کسان کوم چې د زيات عمر يا د دُنيا د نورو مصروفياتو په وجه باقاعده د ادارتي نظام تحت علم حاصل نه کړي د هغوئي د ناظره قرآنِ پاک او فرض علومو د تعليم د پاره په هر جمات کښې **مدارسُ المَدينه بالغان** لګي او په کُنړ شمير ځايونو کښې په کورونو او مدرسو کښې د زيات عمر زنانؤ د پاره مدرسې شروع کړې.

دا وخت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په ټوله دُنيا کښې د نارينؤ 45 زره 232 او د زنانؤ د پاره د 10 زره 845 نه زياتې مدرسې جوړې دي. په دې مدرسو کښې تر اوسه پورې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د 3 لاکهـ 12 زره 158 نه زياتو نارينؤ او زنانؤ ته د ناظره قرآنِ پاک تعليم ورکړے شوے دے.

د مدرسو او جامعاتو نه علاوه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د تعليم دين نورې هم ډيرې ذريعې خپلې کړې په کومو کښې چې د سحر د لَمانځه نه پس په حلقه کښې د قرآنِ پاک **ترجمه** و **تفسير**، د هفته وارې د سُنّتو نه ډکې **اجتماع نه پس د دعاګانو** او **سنتو** زده کولو حلقے، په **مدني قافلو** کښې د

لمُونځ او دعاګانو وغيره زده کولو سلسله، په **مدني چينل** د ډيرو زياتو زده کولو ښودلو پروګرامونه، د کلونو د تجربو او لوستلو په رنړا کښې د مدني مذاکرې په ذريعه د علمي نوادراتو بيان او نور ډير اندازِ تعليم شامل دي.

د دې نه علاوه اُمَّت ته د راپيښو شرعي مسائلو رهنمائي د پاره **دار الافتاء اهلِسُنّت**، علمي او تحقيقي ديني لټريچر رسولو د پاره **اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَّه** (اسلامک ريسرچ سينټر)، د صحافت په ميدان کښې دينياتو ته د ترقۍ ورکولو د پاره **ماهنامه فيضانِ مدينه** او د **دعوتِ اسلامي شپې ورځې**، د انټرنيټ په دُنيا کښې د علمِ دين د اشاعت د پاره د 41 نه زيات **ويب سائټس** او **سوشل ميډيا پيجز** هم جوړ کړے شو.

د دعوتِ اسلامي د دومره فراخه تعليمي نيټ ورک **د ټولو نه لوئے خاصيت** دا دے چې اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! په هره سطحه د جينکو، هلکانو او نارينؤ او زنانؤ د پاره **ټول نظام بيل بيل دي**. که تعليمي ادارې دي او که انتظامي **مجلسونه**، که **محفلونه** دي او که اجتماعات په هره سطحه د **شريعت پاسداري** موجود ده او **د پردے شرعي نظام** پوره طور قائم دے.

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں
اے دعوت اسلامی تِری دھوم مچی ہو

# دعوتِ اسلامي او عالمي امنِ عامه

# Dawat-e-e islami and Glbal Peace

مولانا محمد صفدر علي عطّاري مَدني

**امن د وخت اهم ترین ضرورت:** دا وخت مجموعي طور ټوله دُنيا د بے قرارئ او بد امنئ په داؤ کښې ده، هر ملک امن او سکون غواړي او خپل ټول توان د امن لټولو د پاره لګوي، په عالمي سطحه د دې مقصد د پاره په اربونو ډالرې لګولے شي، فوځونه او تنظيمونه جوړولے شي، قوانين او پاليسيانې نافذ کيږي چې دغه شان په دُنيا کښې امن قائم کړے شي خو د دې باوجود بد امني اوس هم د ټولې دُنيا مسئله ده. امن د دُنيا د هرې معاشرې او د هرې طبقے ضرورت دے، د دې نه بغير ترقي او خوشحالي صرف يو خوب پاتې کيږي بلکه چرې دا نه وي نو قومونه تباهئ ته رسي. امن څنګه قائميدے شي دا يوه تفصيلي موضوع ده خو مختصر دا چې امن په معاشره کښې ښه والي خورولو او بدي ختمولو سره راځي، يوه د امن نه ډکه معاشره هغه وخت قائميدے شي کله چې په خلقو کښې د ښه کارونو کولو او د بدئ د کارونو نه د بچ کيدو رواج عام شي.

**اسلام او د امن نه ډکه معاشره:** که چرې د حقيقت په آئينه کښې اوکتلے شي نو دا خبره صحيح په ډاګه کيږي چې په دُنيا کښې د امن قائمولو د پاره چې کوم کردار دينِ اسلام ادا کړے دے د هغې مثال بل

چرته نه ميلاويږي. اسلام ښه والي ته د ترقئ ورکولو او د بدئ ختمولو د پاره صرف اجتماعي او ملکي سطح قوانين نه دي ورکړي بلکه په اِنفِرادي توګه ئې هم د افرادو ښه تربيت او دوئي ئې د معاشرې بهترين انسان جوړولو د پاره يو ښکلے نظام ورکړے دے. اسلام که يو اړخ ته د انساني حقونو ماتوونکو عادت لرونکو مجرمانو د پاره سزاګانې مقررې کړي دي، د خلقو د ځان او مال او عزت د حفاظت د پاره ئې مضبوط قوانين ورکړي دي، د عدل و انصاف بهترين او مثالي نظام ئې وړاندې کړو نو بل اړخ ته ئې په انفرادي سطح د معاشرې هر ګس ته دا سبق ورکړو چې هغه ته د نورو د حقونو خيال ساتل دي، تر دې پورې چې اسلام د غير مسلمه ګاؤنډيو هم حقونه بيان کړه. الغرض اسلامي تعليمات په معاشره کښې اوسيدونکے هر ګس يو ښه انسان جوړوي چې هغه د خپل ګير چاپيره اوسيدونکو افرادو سره ښه سلوک اوکړي او د هغوئي د حقونو خيال اوساتي.

**د امن نه ډکه معاشره او دعوتِ اسلامي:** د عالمِ اسلام د ټولو نه لوئے تحريک "**دعوتِ اسلامي**" د اسلام د دغه روښانه تعليماتو مطابق په معاشره کښې ښه والي ته د ترقئ ورکولو او د انسان د ذهني او فکري تربيت په ذريعه هغه د معاشرے ښه انسان جوړولو د پاره په ټوله دُنيا کښې کار کوي. دعوتِ اسلامي تر اوسه پورې داسې بيشميره ګسان په نيغه لار روان کړل او هغوئي ئې د ښه انسان جوړولو کار کړے دے کوم چې به په معاشره کښې

ځکښې ډیر بد انسانان ګنړلے کیدل نور دا چې د امنِ عامه خرابوونکي داسې عادت لرونکي مجرمان کوم چې په مختلفو جیلونو کښې سزاګانے تیروي دعوتِ اسلامي جیلونو ته د تللو سره د داسې ګسانو هم ذهنونه جوړوي چې هغوئي بیا د پاره جرمونه اونکړي، نیک مسلمانان او ښه انسانان جوړ شي.

**عالمي امنِ عامه او دعوتِ اسلامي**: د اسلام یو ډیر ښکلے اړخ دا هم دے چې دې د مختلفو قومونو او رنګ او نسل خلق**اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ** (یعني مسلمانان وروڼړه وروڼړه دي) (پ26، الحجرات: 10) په رشته کښې یو ځائے کړي دي، دا هغه رشته ده کومه چې د ټولو فاصلو او سرحدونو باوجود یو بل ته نزدې کوي، د دې نه دا واضحه کیږي چې اسلام یو عالمګیر مذهب دے، دا فاصلے ختموي او خلق یو ځائے کوي، نفرتونه ختموي او مینې تقسیموي. د اسلام د دې مزاج مطابق دعوتِ اسلامي په ټوله دُنیا کښې د اسلامي تعلیماتو عام کولو، د نفرتونو ختمولو او د امن و محبت پیغام عام کولو کښې مصروفه دے، هم دا رنګې چې امن د جرمونو ختمولو او ښه والي ته د ترقئ ورکولو سره ممکن دے نو ځکه دعوتِ اسلامي د خپل اصلاحي مشن په ذریعه په عالمي سطح هم د امن راویستلو د پاره ډیر لوئے کردار ادا کوي، تر دې پورې چې د دعوتِ اسلامي د دې انداز او پیغامِ محبت نه د متاثره کیدو سره غیر مسلمه هم ایمان راوړي. د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو

بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ له خوا جاري کړے شوې "**نیک اعمال**" نومې رساله هم د دې لړۍ یوه کړۍ ده د کومې په ذریعه چې په معاشره کښې د بدۍ نه د بچ کیدو او د نیک کار کولو جذبه زیاتیږي او داسې په معاشره کښې یو مثبت بدلون راځي.

**دعوتِ اسلامي د امن ډک تنظیم دے:** اسلام د بشري حقونو د ټولو نه لوئے محافظ دے هم دا وجه ده چې په دې دین کښې حقوقُ العباد (یعني د خلقو حقونو) ته ډیر اهمیت حاصل دے، د یو حقیقي مسلمان دا کوشش وي چې د هغه د ذات نه بل انسان ته تکلیف اونه رسي هم دغه وجه ده چې دعوتِ اسلامي د احتجاج، درز غوبل او هنګامو نه لرې اوسي او ټوله توجه اصلاح او د معاشرې تربیت ته ورکوي. امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ فرمائي: ټوله دُنیا دې واوري اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم! دعوتِ اسلامي به نه چرې هړتال کوي، نه احتجاج کوي، نه هنګامې کوي، نه ټیزونه سوزوي، نه اور لګوي، نه احتجاجي ریلیانې اوباسي او نه به د حکومتونو په غورځولو کښې لاس کوي. اِنۡ شَآءَاللّٰہ زما نه پس به هم داسې نه کوي، د دعوتِ اسلامي سره پوره افرادي قوت دے خو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ! دا په تخریبي کارونو او وهلو ټکولو کښې برخه نه اخلي، مونږه د الله پاک نه ویریدونکي خلق یو او دا سوچ لرو چې بس په څه طریقه د الله پاک بندګانو ته زمونږ په ذریعه راحت میلاؤ شي، تکلیف ورته اُونه رسي. (د مدني چینل پروګرام: دلوں کی راحت، 19 اپریل 2020 )

**عظیم لیډر او دانشور:** د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا لفظونه دا خبره ظاهروي چې هغوئي دانشور صلاحيتونه لرونكے، یو عظیم لیډر دے. هغوئي په ډير ښه انداز كښې د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونكو ته د امن سبق وركړو او دې سره سره ئې د تنظيم دا پاليسي هم بيان كړه چې دعوتِ اسلامي يو د امن نه ډک جماعت دے او دا به خپل مشن هميشه د امن په ډک انداز كښې په ټوله دُنيا كښې جاري ساتي. تر دې پورې چې اميرِ اهلِسُنّت دا هم اوفرمائيل چې كه بالفرض ما څوک شهيد كړي نو زما د طرف نه هغوئي ته زما حقونه معاف دي. وارثانو ته مې هم خواست دے چې هغوئي ته خپل حقونه معاف كړي. (غیبت کی تباہ کاریاں، ص112) وخت دا ثابته كړې ده چې يو عظيم ليډر او رهنما چې څنګه د يو شفيق پلار په شان د خپلو مريدانو او متعلقينو تربيت كړے دے هم دغه شان ئې د دعوتِ اسلامي مشهورتيا ئې بام ته رسولې ده. د دعوتِ اسلامي د جوړېدو 41 كاله تير شوي دي، د دې نيت ورک په ټوله دُنيا كښې خور دے خو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي په ملک او بهر ملک هر ځائے كښې د امن نه ډک پاتې شوے دے، هم دغه وجه ده چې د پاكستان حكومت له خوا دې تحريک ته دا سرټيفيكټ هم جاري كړے شوے دے چې دعوتِ اسلامي يو غير سياسي او پُر امن تنظيم دے. دغه شان د اسلام پيغام امن او محبت د دعوتِ اسلامي په ذريعه په ټوله دُنيا كښې خپلې خوشبوياني خوروي.

# د دعوتِ اسلامي د خير ښيګړې خدمتونه

## Welfare services of Dawat-e-Islami

**مولانا عمر فياض عطّاري مدني**

دينِ اسلام دينِ فطرت دے، د ده مزاج د انسانيت عِزَّت، فائده ورکول او فيض رسول دي. اسلام د بے وسه ګسانو او غم زپلي انسانيت په مدد او تعاوُن ډير زور ورکړے دے. خلقو ته بنيادي او معياري تعليم، د صحت بنيادي آسانئ ورکول، د يتيمانانو په ښه انداز کښې پالنه کول، د معاشرې لاندې طبقې د داد رَسئ، د هغوئي د معاشي او معاشرتي حقونو دفاع، د خلقو سره ښه سلوک او د صدقو او خيراتونو په ذريعه د هغوئي مرسته کول د انسانيت په خدمت کښې په وړومبي فهرست دي. قرآن و حديث په واضحه الفاظو کښې په وَس لرونکو ګسانو دا ذمه واري اچولې ده چې د محرومه طبقو خيال اوساتي. مسلمانانو ته صرف د انسانانو سره د ښه سلوک نه دي وئيلے شوي بلکه د ځناورو سره هم د رحم سلوک کولو او د ماحولياتو د حفاظت تاکيد هم شوے دے.

په اوسني وخت کښې د عاشقانِ رسول عالمګير عظيم ديني تحريک دعوتِ اسلامي د اُمّتِ مسلمه صرف علمي او فکري رهنمائي نه کوي بلکه په معاشره کښې د غم زپلي انسانيت خدمت او د مجبوره او محرومه طبقې د هر ممڪن مدد کولو کوشش هم کوي. د خير ښيګړې د کارونو د پاره دعوتِ

اسلامي باقاعده يو ډيپارټمنټ "FGRF" جوړ کړے دے د کوم په ذريعه چې د تعليم، صحت او د خلقو د ښيګړې په ميدانونو کښې انسانيت د جهالت، بيمارۍ، غريبۍ، بے روزګارۍ، قدرتي آفتونو او بحرانونو نه د راويستلو د پاره ماهره ټيم هلے ځلے کوي.

په خوږ وطن کښې د ناڅهاني آفتونو په موقع دعوتِ اسلامي هميشه وړاندې وړاندې وي. که په سيلاب، زلزله، طوفانونو کښې کله هم انساني او مالي اَملاک ته نقصان رسيدلے دے، يا د دې انديښنې رامخې ته شوې دي نو د دعوتِ اسلامي په زرګونو کارکنان د مرستې د پاره وړاندې راغلي دي او د ملک لرې لرې علاقو ته د تللو سره ئې د زړلے شوؤ طبي، مالي او اخلاقي مدد کړے دے. دا سلسله صرف د آفتونو په وخت کښې نه بلکه ټول کال روانه وي.

**د دعوتِ اسلامي د خير ښيګړې د کارونو جائزه:** د FGRF فراخه نيټ ورک د 65 نه په زياتو ملکونو کښې خور دے او زيات افرادي قوت دا د نورو ادارو نه ممتازه جوړوي. FGRF په ډيرو انداز سره د اُمتِّ محمديه خدمت کوي: ❀ ډيزاسټر مينجمنټ ❀ فوډ ډسټري بيوشن ❀ فيضان ري هيبلي ټيشن سينټر (د معذورو ماشومانو علاج) ❀ مدني هوم (يتيم خانه) ❀ هيلتھ کيئر سينټر ❀ د بوټو نالَوَلو مهم/آربن فوريسټ ❀ بلډ کيمپس ❀ د تهيليسيميا او نورو مريضانو د پاره وينه ورکول ❀ فري ميډيکل کيمپس

او ✿ د اِسکِلز انهینسمنټ پروګرامونو سره سره وبائي مرضونو، ریل پیښو، زلزله، سیلاب، باراني آفتونو، د اور لګیدو/د کورونو راپریوتو پیښو، د آئي ډي پیز (یعني د بے کوره شوؤ خلقو) مدد، په غریبانانو کښې راشن تقسیمول، په تهر صحرا او چولستان کښې د اوبو پمپونه لګول او کوهیان کنستل، په اولډ هاؤسز کښې د دعوتونواهتمام کول، هیټ اسټروک اسټیبلائزیشن کیمپس او د پاکستان سره سره په ټوله دُنیا کښې د پیشمني او روژه ماتې اهتمام ډیر په منظم انداز کښې کولے شي.

د **تهیلیسیمیا فري پاکستان**: COVID-19 په وخت د تهیلیسیمیا مریضانو ته د وینې د عطایاتو ډیر سخت کمے پیښ شو، د وینې د عطیاتو د نشت والي په وجه مریضان ماشومان کور ته واپس تلل کوم چې د یوې لوئے المیے سبب جوړیدے شو. په دې نازکو حالاتو د نظر اچولو سره امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دعوتِ اسلامي ټولو ذمه وارانو ته خصوصي هدایتونه جاري کړل چې د تهیلیسیمیا د مریضانو د مدد د پاره په فوري او هنګامي بنیادونو اقدامات کړي دي. تاسو به حیران شئ چې د FGRF تحت د مئي کال 2020ء نه تر جون کال 2022ء پورې په ټول پاکستان کښې د لګیدلو د وینې کیمپونو کښې د 50 زرو نه زیات بلډ بینکس عطیه شول کوم چې د ټول ملک په مشهورو بلډ بینکس او تهیلیسیمیا رجسټرډ ادارو کښې جمع کړے شو.

**بوټي نالول**: څنګه چې سائنس ترقي کوي په دغه رفتار سره په دُنیا کښې د ګاډو د لوګو او د کارخانو په وجه د خوریدونکې فضائي آلودګۍ سره د زمکې درجه حرارت هم زیاتیږي چې د هغې په وجه موسمي حالاتو کښې زیاتے او په انساني ژوند د دې ضرر رسوونکې اثرات کیږي.

د ګلوبل وارمنګ مقابلے د پاره په ټوله دُنیا کښې په بوټو نالوَلو زور راوړے کیږي، په دې نیک کار کښې د دعوتِ اسلامي د طرف نه په پوره انداز کښې د شرکت کولو فیصله اوکړے شوه او بانئ دعوتِ اسلامي په مدني چینل د یو ارب بوټو نالولو اعلان اوکړو. په هدف باندې عمل کولو د پاره تر اوسه پورې د WWF، فاریسټ ډیپارټمنټ او متعلقه حکومتي ادارو په مرسته د 20 لاکهـ نه زیات بوټي د دعوتِ اسلامي او عاشقانِ رسول له خوا نال کړے شوي دي او نور کوششونه روان دي.

**مدني هوم (یتیم خانه)**: په جولائي کال 2021ء کښې دعوتِ اسلامي یتیم خانه د "مدني هوم" په نوم د جوړولو فیصله اوکړه او د پوره منصوبه بندۍ نه پس ئې په مارچ کال 2022ء کښې د وړومبۍ یتیم خانې بنیادي تیګه په نارتهـ کراچۍ، کریلا اسټاپ کښې د فیضِ مدینه جُمات سره پیوست ځائے کښې کیښوده. د دعوتِ اسلامي ترجمان حاجي عبد الحبیب عطّاري د بنیادي تیګې کیښودو دستورې ته په خپل بیان کښې اووئیل چې

په ”دعوتِ اسلامي مدني هوم کښې به موجودو ماشومانو ته جامې ورکولے شي، د دوئي علاج، د دوئي تعليم و تربيت او د مستقبل په باره کښې به د دوئي پالنه کوي. دلته به د دين او دنيا دواړو تعليم ورکولے شي، د تعليم ورکولو په وخت به د دوئي په روزګار د لګولو ته هم پام کولے شي.“

**ډيزاسټر منيجمنټ:** ډيزاسټر منيجمنټ د FGRF يوه ډيره ښکاره او فعاله شعبه ده، دا شعبه په قدرتي آفتونو او پيښو مثلاً سيلاب، زيات باران، زلزلے، ريل پيښو، هيټ اسټروک، وبائي مرضونو، د کورونو غورزيدو/اور لګيدو او د هوائي جاز راوليدو په شان د پيښو په وخت فعاله وي. زيانے شوي خلقو ته خوراک او امدادي سامان رسول، د عارضي پناه ګاهو سره خوراک او د ښنلو صفا اوبه تقسيمول د دې شعبې بنيادي ذمه واري ده.

**مدني هيلتھ کيئر سينټر:** وړومبے مدني هيلتھ کيئر سينټر د کراچۍ په عائشه منزل علاقه کښې تيار کړے شوے دے، په 25 صفر الْمُظفر 1444ھ د يومِ رضا په موقع د دې افتتاح کيدونکے ده. د شعبې د ذمه وار رکنِ شوریٰ مولانا حاجي عبد الحبيب عطّاري مطابق په هيلتھ کيئر سينټر کښې به ماهره ډاکټران ناست وي. دغلته به د نارينۀ او زنانۀ د پاره بيل بيل د شرعي پردے پوره خيال ساتلو سره ايمرجنسي، ګائني، عامو مرضونو، د ماشومانو د مرضونو، آرتھوپيډک (د هډوکو، جوړونو، پټو) د مرضونو علاج کيږي. هغوئي

نور اووئيل چې په دې کيئر سينټر کښې به د لوئے ماهره ډاکټرانو په نګرانئ کښې علاج کيږي او د انسانيت د خدمت په غرض سره به ډاکټر صرف او صرف د 300 نه تر 500 روپو پورې فيس اخلي. دلته به هره ورځ د 800 نه تر 1200 پورې مريضان علاج کولے شي.

**د مختلفو معذوره ماشومانو علاج:** د آټِزم (Autism) او د سماعت نه د معذورئ سره سره د حِسّي مسائلو ښکار ماشومانو بحالي هم د FGRF په ترجيحاتو کښې شامله ده. دې لړ کښې FGRF په شاهراهِ فيصل کراچئ کښې د "فيضان ري هيبلي ټيشن سينټر" په نوم د بحالئ يو مرکز جوړ کړے دے او دغه رنګ ئې په فيصل آباد کښې هم يو ځائے حاصل کړے دے چرته چې به د آرټ د سهولتونو او جديد ترين تهراپي تڪنيک نه د ډک فيضان ري هيبلي ټيشن سينټر دويم شاخ جوړولے شي.

عاشقانِ رسول ته خواست دے چې د خپلو عطياتو په ذريعه د FGRF سره مرسته اوکړي. که چرې تاسو په دې نيک کار کښې حصه اخستل غواړئ نو په دې لاندې نمبر رابطه اوکړئ.

رابطه نمبر: **(021) 32792626**

## د جدید ټیکنالوجئ په میدان کښې د دعوتِ اسلامي دیني خدمات

## Dawateislami and Latest Technology

اعجاز نواز عطّاري مدني

جدید ټیکنالوجي د وخت ضرورت او د رابطے اَهَمَّه ذریعه ده، د دې د غلط استعمال نقصانونه او د صحیح استعمال ډیرې فائدې هم دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجئ په میدان کښې په مختلفو طریقو دیني خدمات ترسره کوي. تفصیل ئې اوګورئ:

### د Mobile Apps تَعَارُف:

د دعوتِ اسلامي I.T ډیپارټمنټ تر اوسه پورې د 31 نه زیات مختلف ایپلي کیشنز ریلیز (Release) کړې دي، ځینې Apps دا دي:

**القرآن الکریم (Al Quran-ul-Kareem):**

د دې ایپ سره د سیپارې، سورت، آیت په اعتباره سره تلاوت کولے شئ، د مختلفو قاریانو په آوازونو کښې تلاوت اوریدے شئ، ډاؤن لوډ کولے ئې هم شئ، تلاش کولے ئې هم شئ.

**صراطُ الجنان(Sirat ul Jinan):** په دې ایپ سره د قرآنِ پاک پوره ترجمه د تفسیر سره لوستے شئ، لټولے شئ، کاپي کولے ئې هم شئ.

**معرفةُ القرآن (Marifat ul Quran):**

د قرآنِ پاک د لفظي او بامحاوره ترجمے بهترین ایپ دے، د مختلفو موضوعاتو ډیټا لټولے او ډاؤن لوډ کولے هم شئ.

**بهارِ شریعت (Complete Bahar e Shariat):** د دې ایپ په ذریعه د دیني مسئلو د ډېر لوئے کتاب بهارِ شریعت 20 حصے لوستے شئ، د لټولو او کاپي کولو سهولت پکښې هم شته.

**دار الافتاء (Dar-ul-ifta Ahlesunnat):**

د دې ایپ په ذریعه د دارُ الافتاء اهلِسُنَّت په زرګونو فتوې د موضوعاتو په اِعتبار سره لوستے شئ، لټولے او ډاؤن لوډ کولے ئې هم شئ، مختلف کتابونه او پروګرامونه هم کتے شئ.

**د کتابونو لائبریري (Islamic eBooks Library):**

دا د مختلفو موضوعاتو دیني کتابونو آن لائن ایپ دے، د دې نه کتابونه د لوستو سره ډاؤن لوډ کولے او شیئر کولے هم شئ.

**د لمُونځونو وختونه (Prayer Times):**

د دې ایپ په ذریعه د لوکیشن سیټ کولو سره د دُنیا د زرګونو ځایونو د لمُونځونو صحیح وختونه معلومولے شئ، د قبلے طرف کتے شئ، په آټو طریقے سره د لمُونځونو په وختونو کښې موبائل په Silentموډ باندې سیټ کولے هم شئ.

**نیک اعمال (Neik Amaal):**

که چرې تاسو نیک جوړیدل غواړئ نو دا ایپ ستاسو د پاره دے، د دې ایپ په ذریعه د هرې ورځې په بنیاد د خپلو معمولاتو چیک کولو سره په

نیک جوړيدو کښې مدد حاصليدے شي.

**حج اوعمره (Hajj and Umrah):**

د حج او عمرې کوونڪو د پاره دا ايپ بهترين ملګرے دے، په دې کښې د حج او عمرې طريقه، ضروري مسائل، ويډيوګانے، دعاګانے، د مکې، مدينې، جدې موسمي حالات او د کرنسۍ کنورټر هم شته.

**کلمه اينډ دعا (Kalma and Dua):**

د وړو ماشومانو د ديني تربيت يو بهترين ايپ دے، په دې کښې شپږ کلمے، مختلفے دعاګانے، په سُنَّتو او آدابو او اخلاقي تربيت باندې مشتملې مختلفے ويډيوګانے موجودې دي.

**اِسلامي بيانونه (Islamic Speeches):**

په دې ايپ کښې د قرآن و حديث او بزرګانِ دين په اقوالو باندې مشتمل په مختلفو موضوعاتو باندې ليکلي بيانونه موجود دي.

**مدني چينل (Madani Channel):** د دې ايپ په ذريعه تاسو د اُردو، انګلش، په بنګالۍ ژبه کښې مدني چينل Live (براهِ راست) کتلے او اوريدے شئ.

**روحاني علاج (Online Rohani Ilaj & Istikhara):**

د دې ايپ په ذريعه د استخارے او ظاهري او رُوحاني بيمارۍ کاټ کولے شي، د خپل کور نه تاسو تعويزونه راغوښتے شئ، په سلسلهٔ قادريه رَضويه عطَّاريه کښې مريد هم جوړيدے شئ.

**فيضان آن لائن اکيډمي:**

د دې شعبې په ذريعه د دعوتِ اسلامي نه د انټرنيټ په ذريعه د قرآن و سُنَّت تعليم عام کولو د پاره ناظره، حفظ، ترجمهٔ قرآن، تفسير او حديث، درسِ نظامي، فرض علوم، عقائد، سيرت، فقه، طهارت، لمُونځ، اِمامت، روژې او د زکوٰة سره سره نور کورسونه آن لائن کيدے شي.

**Social media او دعوتِ اسلامي:**

په مختلفو سوشل ميډيا پليټ فارمز لکه يوټيوب، فيس بک، اِنسټاګرام، ټويټر او واټس ايپ وغيره د غلطو موادو او په غلط استعمال د وخت ضائع کولو، دروغو، غيبت، چغلئ، بهتان، حسد، تکبر، بد اخلاقئ، فحش خبرو په شان ډيرې بدئ عام کيږي، صرف د مزې د پاره د دې استعمال ډير نقصان رسوي، دعوتِ اسلامي په دې ټول پليټ فارمز په مثبت انداز کښې د مختلفو چينلو او پيجز په ذريعه د نيکئ دعوت ښه عام کوي.

**د مختلفو Websites قيام:**

ويب سائټس هم د معلوماتو حاصلولو يا مختلفو څيزونو د اشتهار يوه لويه ذريعه ده، د علمِ دين حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي دې لاندې ويب سائټس ته ضرور لاړ شئ.

* www.dawateislami.net
* www. dawateislami.org
* news.dawateislami.net
* www.daruliftaahlesunnat.net

**مدني چينل(Madani Channel):**

دعوتِ اسلامي د مدني چينل په ذريعه د قرآن و سُنّت تعليمات عام کولو کښې هم ورانديږ وراندي دے، د مدني چينل د 24 ګهنټو آن ايئر او آف ايئر خبرونو په ذريعه صرف علمِ دين حاصلولے نه شئ بلکه د ځان، د خپل کور والؤ، د ماشومانو او متعلقه ګسانو ديني او دُنياوي اخلاقي تربيت هم کولے شئ.

ښکاره دې وي چې دا ټول Apps، Update کولے هم شي، په ګوګل پلے وغيره د دې Apps نوم ليکلو سره لټولے او انسټال کولے شئ او ستاسو د آسانئ د پاره يو ايپ په نوم د"Dawateislami Digital Services" هم جوړ کړے شوے دے په کوم کښې چې د دعوتِ اسلامي ټول ايپس او سوشل ميډيا لنکس موجود دي دا ايپلي کيشن د دې Qr-Code اسکين کولو سره انسټال کولے شئ.

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! د دې ايپس او ويب سائټس په ذريعه ډير خلق فائده حاصلوي، د دعوتِ اسلامي د ويب سائټس وزټ کوونڪو (يعني دې سائټس ته د تلونڪو) اوسط د مياشتې تعداد د 13 لاکهـ 10 زره نه زيات دے او د دعوتِ اسلامي ايپس د 16 ملين (يعني يو کروړ 60 لاکهـ) نه زيات شمير کښې انسټال کړے شوے دے.

الله پاک دې دعوتِ اسلامي ته نوره ترقي او عروج عطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د دعوتِ اسلامي په زنانوو کښې ديني کار

**اُمِّ میلاد عطّاريه**

يقيناً دا د الله پاک احسان دے چې د شيطاني چالونو نه د خپلو بندګانو د بچ کولو د پاره ئې د انبيائے کرامو او د هغوئي نه پس ئې د اولیائے کرامو سلسله جاري اوساتله، کوم چې د الله پاک بندګان د هغه دين طرف ته د راغب کولو او د شيطان په لاره د روانيدو نه منع کولو فرائض ادا کوي. په اوسنۍ زمانه کښې د دې ژوندے مثال اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دے، څوک چې د معاشرې د اصلاح په خدمت کښې يو مثال دے. الله پاک هغوئي ته د بيشميره خوبيانو سره سره د ښه اخلاقو يو داسې صفت ورکړے دے چې زمانه په هغوئي مَيَنه شوې ده، خلق په هغوئي پسې روانيدو ته بخپله يواځے تيار نه شول بلکه دا ئې د ځان د پاره سعادت اوګڼړلو او په خپله خوش قسمتۍ ئې ناز شروع کړو، او بيا وخت اوښودله چې د چا د سمولو د پاره د هغوئي خپل مور پلار شکست منلے وو او د خپل اولاد نه بيزاره شوي وو دې سره سره استاذانو هم قسما قسم کوششونه اوکړل، آخر هغوئي هم د دوئي نه لاس واخستلو، داسې بے لارې شوي ګسان هم د هغوئي دربار ته د را رسيدو سره د هغوئي په لاسو توبه اوکړه او د خپل رَبّ رضا کولو والا جوړ شو او د مور

پلار په فرمانبرداره اولاد کښې د هغوئي شمير شروع شو، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د معاشرې د هر انسان اصلاح طرف ته پام اوکړو، هغوئي چې چرته د بوډاګانو، ځلمو، استاذانو، طالبِ علمانو او په نورو ډيرو شعبو کښې د اسلام محبت، د دې په تعليماتو باندې د عمل او د عشقِ رسول د تقاضو مطابق د ژوند تيرولو جذبه عامه کړه، هلته ئې د زنانؤ د اصلاح هم بهترين نظام قائم کړو. زنانه ځکه صرف د معاشرې اهم جز نه دے بلکه د انسانانو د تربيت ذريعه هم ده، ځکه چې دعوتِ اسلامي چې کله د معاشرې اصلاح ذمه په خپله غاړه واخسته نو داسې څنګه کيدے شي چې د زنانؤ د پاره څه فليټ فارم نه وي. دعوتِ اسلامي دوئي هم يواځې پرې نښودلې، هم دا وجه ده چې د دُنيا کوم ګوټ ته هم د دعوتِ اسلامي پيغام اورسيدلو، د هغه ځائے زنانؤ هم د دې تحريک نه فيض واخستلو. دا وخت د ملک او بهر ملک په لکونو زنانه د دې تحريک سره صرف تعلق نه ساتي بلکه د خپلو نسلونو د اصلاح ذمه ئې په غاړه اخستې ده او د نورو خويندو د اصلاح په کوششونو کښې هم مصروفه دي.

**د دعوتِ اسلامي د زنانو د پاره ديني کار:** د اسلامي خويندو په ځينې اهمو شعبو يو نظر:

- ❀ د زيات عمر زنانؤ او د کم عمر جينکو ماشومانو د پاره جدا جدا مدرسةُ المَدينه جوړول.

- د قرآنِ پاک آن لائن زده کولو د کلاسونو اهتمام.
- د درسِ قرآن په ذريعه فيضانِ قرآن عام کول.
- د جامعاتُ المَدينه ګرلز په ذريعه اسلامي خويندو ته درسِ نظامي يعني عالمَه کورس کول.
- په هفته وارو اجتماعاتو او محفلونو کښې د اصلاحي بيانونو په ذريعه په اسلامي خويندو کښې د عمل جذبه زياتول.
- د شعبۀ رابطه په ذريعه د زنانؤ وکيلانو، ججانو، زنانؤ لوبغاړو، فن کارانو او په کار کوونکو زنانؤ کښې د اصلاح کوششونه کول او هغوئي دين ته رانزدې کول.
- د شعبۀ تعليم په ذريعه د سکولونو او کالجونو زنانؤ طالب علمانو، استاذانو او په زنانه عمله کښې د دينِ اسلام رنړا خورول.
- د شعبۀ اسپيشل اسلامي خويندو[1] په ذريعه په معذوره اسلامي خويندو کښې په ملک او بهر ملکونو کښې ديني کارونه کول.
- د شعبۀ دارُالسنه ګرلز په ذريعه په ډيرو ښارونو کښې په اسلامي خويندو باندې مختلف کورسونه کول او تنظيمي رهنمائي کول.
- په غير مسلمه زنانؤ باندې د اِنفِرادي کوشش کولو سره هغوئي ته د اسلام قبلولو دعوت ورکول او نوو مسلمانو شوو اسلامي خويندو ته د اسلام

1... د دې نه مراد چاړې، کڼرې، نابينا يا د څه جسماني معذورۍ ښکار زنانه دي۔

بنيادي خبرې ښودل، د عقائدو او فرض علومو په باره کښې تربيت ورکول او تربيتي کورسونه پرې کول.

د دې نه علاوه اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! په اسلامي خويندو کښې د 8 ديني کارونو مضبوط نيتږ ورک هم قائم دے د کوم په ذريعه چې په ټوله دُنيا کښې د نيکئ دعوت او د بدئ نه د بچ کولو رغبت عام کولے شي.

**د 8 ديني کارونو د کارکردګئ جائزه (جون 2022ء ملک او بهر ملکونه)**

| هره ورځ 3 ديني کارونه | | هفته وار 4 ديني کارونه | | ماهانه يو ديني کار |
|---|---|---|---|---|
| انفرادي کوشش | د ديني ماحول سره‌تعلق لرونکې اسلامي‌خويندې: 7029 | هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع | مقامات: 13273<br>اوسطاًشرکاء: 422780 | د نيك اعمالو رساله 100684 |
| کور درس | 104653 | علاقائي دوره | 35219 | |
| مدرسة المدينه بالغات | مدارس: 10510<br>اوسطاً شريکې زنانه: 91627 | مدني مذاکره | 127759 | |
| | | رساله لوستلو/ اوريدلو والا | 1902011 | |

# د دعوتِ اسلامي د ديني کارونو نظام د 12 ديني کارونو سره

## System of religious works of Dawat-e-Islami

عبد الله نعيم صديقي عطّاري مدني

انسان د روح او د بدن د مجموعې نوم دے، لکه څنګه چې د بدن طاقتور ساتلو د پاره د ده د خوراک خيال ساتلے شي، د ده د صفائې خيال ساتلے شي او دا د عيب داره جوړولو نه محفوظه ساتلے شي هم داسې د روح د طاقتور جوړولو د پاره د ده د خوراک اهتمام، د پاک والي انتظام او د داغدارئ نه بچ کولو لازمي دي.

**د روح ضرورتونه او دينِ اسلام:** د روح د ټولو ضرورتونو پوره کولو د پاره دينِ اسلام ايمان او ښه عمل ضروري ګرځولے دے او دا تلقين ئې کړے دے چې د "ټول ښه والي بنياد ايمان دے او د روح ښکلا د ايمان نه پس په نيکو عملونو سره ممکن ده."

**اسلام او دعوتِ اسلامي:** د اسلام دا ښکلے پيغام د ټولې دُنيا خلقو ته د رسولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي جوړ کړے شو کوم چې د بهترينو ديني خدماتو د پاره هلے ځلے کوي، د انسان د اصلاح نه تر د معاشرې د اصلاح پورې بلکه د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش د منصوبے خپلولو والا دا تحريک د خپل زبردسته نظام په وجه مشهور هم دے او کامياب هم دے!

# د دعوتِ اسلامي د ذيلي حلقے 12 ديني کارونه

دعوتِ اسلامي د خپل عظيم مدني مقصد**"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي"** حاصلولو د پاره د هرې ورځې، هفته وار او د مياشتې 12 ديني کارونو داسې منشور وړاندې کړے دے چې هر مسلمان د خپل معاشي، خانداني او معاشرتي مصروفيانو سره سره دا منشور د ژوند حصه جوړوي او د عمل په ذريعه خپل روح ښائسته کولے شي! د دې 12 ديني کارونو مختصر تعارُف وړاندې کيږي، اوئې ګورئ:

**هره ورځ 4 ديني کارونه:** **(1) د سحر لمَانځه له بيدارول:** د ورځې شروع کيدو سره د دعوتِ اسلامي ديني کارونه شروع کيږي او په سُنَّتِ نبوي باندې د عمل کولو سره مسلمانان د سحر د لمَانځه د پاره د رابيدارولو سلسله وي، کومې ته چې د **"سحر لمَانځه د پاره رابيدارول"** وئيلے شي. اَلْحَمْدُلِلّٰہِ! مشاهده ده چرته چې دا ديني کار په پابندئ سره کيږي هلته د سحر لمُونځ کوونکو شمير زيات وي **(2) د تفسير اوريدلو اورولو حلقه:** د قرآنِ کريم نه فيض حاصلولو د پاره د سحر لمَانځه نه پس د درسِ قرآن سلسله وي کومې ته چې د **"تفسير اوريدلو اورولو حلقه"** وئيلے شي. په کومو جُماتونو کښې چې دا کار رائج وي هلته د عجيبه روحانيت فضا وي او مسلمانان ډير په شوق سره په دې حلقه کښې شريك کيږي

**(3) درس:** د علم ته خوړولو د پاره هره ورځ په جماتونو او د جماتونو نه بهر د

ګڼرې ځائے کښې د (د فيضانِ سُنَّت مختلف ابواب يا د اميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليکلے شوي خاص رسالو نه) درس ورکولے شي، د دې نه علاوه په کور، سکول، کالج، يونيورسټۍ، اکيډمۍ، مدرسةُ المَدينه او جامعةُ المَدينه وغيره کښې هم درس ورکړے کيږي، دې ديني کار ته د "**درس**" نوم ورکړے شوے دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې ديني کار ډير مدني سپرلي دي، د دې درس په وجه د ډيرو اسلامي ورونړو په ژوند کښې انقلاب راغلے دے، د ګناهونو د ډک ژوند نه توبه ګار شوي دي او د نيکۍ په لاره د روانيدونکو يو لوئے شمير د دې ديني کار ميوه ده **(4) مدرسةُ المَدينه بالغان**: د زيات عمر اسلامي ورونړو د قواعد و تجويد سره قرآنِ مجيد لوستل زده کولے شي، د سُنَّتونو او آداب په حوالے سره زبردست تربيت کولے شي، دې ته د "**مدرسةُ المَدينه بالغان**" نوم ورکړے شوے دے. د دې ديني کار په وجه بيشميره اسلامي ورونړو نه صرف د قرآنِ پاک تعليم نه دے حاصل کړے بلکه په دې مدرسه کښې د تربيت اخستلو سره ډير خوش قسمته د مُبَلِّغ جوړ شوي دي او د دين په خدمت کښې مشغول دي. د 2 لاکهـ نه زياتو عاشقانِ رسول د تجويد سره مُفت قُرآنِ مجيد زده کولو او نورو ته ښودلو کښې مصروف دي.

**هفته وار 5 ديني کارونه: (5) هفته وار اجتماع**: د عاشقانِ رسول د زړه او روحاني سکون د پاره په هر ورځ غټ ښار کښې د ماښام د لمَانځه نه تر اشراق او چاشت پورې (په دريو نشستونو کښې) هفته وار اجتماع کيږی، په

دې کښې تلاوت، نعت شريف، بيان او ذِکرو دُعا کيږي، په دې اجتماع شريك کيدونکو خوفِ خُدا، ديدارِ مصطفٰی،د دعاګانو قبليدلو، د ګناهونو نه د توبه کولو سعادت نصيب کيږي **(6) هفته وار مدني مُذاکره**: هره هفته د ماسخُتن د لمَانځه نه پس د مسلمانانو د شرعي، اخلاقي، معاشرتي، نظرياتي او کورَني معاملاتو په باره کښې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه سوالونه کيږي او هغوئي د هغې سوالونو د حکمت نه ډک جوابونه ورکوي، دې ديني کار ته "**هفته وار مدني مذاکره**" وئيلے شي. د مدني مذاکرې په برکت ډير خلق سم شوي دي، کورنۍ جګړې ختمې شوي دي، د زړونو نه وهمونه او وسوسې لرې شوي دي او ډيرې پريشانۍ حل شوي دي **(7) علاقائي دوره**: د هر جُمات په طرفونو کښې کور کور، دکان دکان ته د تګ سره په کورونو او دکانونو کښې موجودو او ځومره چې ممکنه وي په لاره کښې ولاړو او تلونکو راتلونکو ټولو خلقو ته د نيکۍ دعوت ورکولے شي، دې ته "**علاقائي دوره**" وئيلے شي. د دې ديني کار په برکت د سُنَّتو نه د ډک ژوند نه لرې بے قراره ژوند تيروونکي اسلامي ورونړه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته کيږي او د نيکو په برکت د هغوئي په ژوند کښې سکون راځي **(8) يومِ تعطيل اعتکاف**: نوؤ علاقو، د ښار په مختلفو علاقو او د کلو په جُماتونو کښې د **چُتۍ** په ورځ اعتکاف کيږي کوم ته چې "**يومِ تعطيل اعتکاف**" وئيلے شي. د دې ديني کار په وجه ډير مسلمانان پينځه وخته

لمُونځ ګزاره جوړ شوي دي، جماتونه آباد شوي دي او ډیر خلق خپل وخت په فضول څيزونو کښې د تیرولو په ځائے د دین په خدمت کښې تیرول شروع کړي دي **(9) هفته وار رساله:** د د دیني شعور او خبرتیا د پاره د مکتبةُ المَدینه یوې رسالې لوستلو یا اوریدلو په هفته وار مدني مُذاکره کښې ترغیب ورکړے کیږي کومې ته چې "**هفته وار رساله مطالعه**" وئیلے شي. د دې په برکت په مسلمانانو کښې دیني شعور بیداریږي او د علمِ دین په شکل کښې د میراثِ نبوي خزانه حاصلیږي.

**د میاشتې 3 دیني کارونه: (10) نیك اعمال:** د خلقو د روحاني تربیت او د ذاتي اصلاح د پاره د سوالونو په صورت کښې یوه رساله ترتیب کړے شوې ده کومه چې په ټاکلے شوي وخت هره ورځ د ډَکَوَلو سره د خپلو اعمالو جائزه اخستے شي او د هرې عیسوئ میاشت په وړومبني تاریخ باقاعده د ذیلي نګران/ شعبه ذِمه دار سره جمع کولے شي، دې دیني کار ته "**نیک اعمال**" وئیلے شي. د دې په برکت د نیکو اعمالو او د خپلې اصلاح په کوشش کولو باندې استقامت نصیب کیږي **(11) مدني قافِله:** د علمِ دِین زده کولو او د نیکئ دعوت عام کولو د پاره یو څو اسلامي وروڼه یو ځائے کم از کم **3** ورځو، **12** ورځو، یوه میاشت، یا **12** میاشتو د پاره د الله پاک په لاره کښې سفر کوي دې ته "**مدني قافله**" وائي. د دې مدني قافلے په برکت جماتونه آبادیږي، په ټوله دُنیا کښې د اسلام د صحیح تعلیماتو تبلیغ

کېږي او په زرګونو کافران مسلمانان شوي دي. **(12) مدني کورسونه:** د مسلمانانو عبادات او اعمال نور بهتر کولو د پاره مختلف کورسونه (مَثَلاً فیضانِ نماز کورس، مدني تربيتي کورس، اصلاحِ اعمال کورس وغيره) کولے شي کومو ته چې د "**مدني کورسز**" نوم ورکړے شوے دے. د دې مدني کورسونو په ذريعه د ډيرو خلقو اخلاقي، معاشرتي او د شرعي آداب و مسائل او تنظيمي طريقهٔ کار ښودلو کوشش کولے شي. د دې کورسونو کولو نه پس عاشِقانِ رسول په معاشره کښې د عزت ژوند تيروي.

## د دعوتِ اسلامي تنظيمي نظام

د دعوتِ اسلامي په 12 ديني کارونو مشتمل د دې منشور کاميابولو او په ټوله دُنيا کښې د دې نافذ کولو د پاره يو مضبوط نظام جوړ کړے شوے دے د کوم په مدد سره چې دا ټول منشور چلولے شي، دا نظام د ذيلي حلقے نه د شروع کيدو سره د مرکزي مجلسِ شوریٰ پورې دے، ذيلي حلقه د دې د بنياد او مرکزي مجلسِ شوریٰ د چهت حيثيت لري. مرکزي مجلسِ شوریٰ اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت د تربيتِ يافته، مخلصه، هِمَّت لرونکو، قابلو، حساسو او پوهه لرونکو صلاحيتونو لرونکو په 26 مبلغينو مشتمله ده کومه چې په ټوله دُنيا کښې د دعوتِ اسلامي نظام ډير په منظم انداز کښې چلوي.

د دعوتِ اسلامي د دې ټول منشور او تنظيمي سيټ اپ صرف يو مقصد دے: چې "**ماته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي!**"

## د 12 دیني کارونو د کارکردګئ جائزه (جون2022ء،پاکستان)

| هره ورځ 5 دیني کارونه | | هفته وار 5 دیني کارونه | | د میاشتي دوه دیني کارونه | |
|---|---|---|---|---|---|
| د سحر لمَانځه د پاره بیدارول | ذیلي حلقې 23461<br>اوسطاً شُرکاء 50435 | هفته وار اجتماع | مقامات 611<br>اوسطاً شُرکاء 163449 | مدني قافله 3 ورځې،12 ورځې، یوه میاشت | مدني قافلې 3328:<br>اوسطاً برخه اخستونکي: 23345 |
| جُمات درس | 37628 | یومِ تعطیل اعتکاف | 13964 | نیک اعمالو رساله | تقسیم: 175504<br>وصول: 106404 |
| چوک درس | 35541 | مدني مذاکره | مقامات: 14719<br>اوسطاًشرکاء 124553 | **نوټ**: دا کارکردګي د جون 2022ء او صرف د پاکستان ملک ده. د جولائي 2022ء نه جُمات درس او د چوک درس ملاوهلو سره یو دیني کار شوے دے او مدني کورسز د میاشتي په مدني کارونو کښې شامل کړے شوے دے. | |
| د تفسیر اوریدو/اورولو حلقه | 18724 | رساله لوستلو/ اوریدلو والا | 1821428 | | |
| مدرسة المدینه بالغان | مدرسې: 41732 | علاقائي دوره | 35045 | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | اوسطاً شرکاء 220707 | | | |

## د 8 ديني كارونو د کارکردګۍ جائزه (جون2022ء، ملک بهر ملکونه)

| هره ورځ 3 ديني كارونه | | هره هفته 4 ديني کارونه | | د مياشتي 1 ديني كار | |
|---|---|---|---|---|---|
| انفرادي کوشش | ديني ماحول سره وابسته اسلامي خويندي 7029 | هفته واره د سُنَّتو نه ډکه اجتماع | مقامات 13273<br>اوسطاًشرکاء: 422780 | د نيک اعمالو رساله | 100684 |
| کور درس | 104653 | علاقائيدوره | 35219 | | |
| مدرسة المدينه بالغات | مدرسي: 10510<br>اوسطاً شرکاء: 91627 | مدني مذاکره | 127759 | | |
| | | رساله لوستلو/ اوريدلو والا | 1902011 | | |

........

## حلقہ بندی خلاصہ (صوبہ وائز) شروع, **27** جولائی, 2022

| میٹروپولیٹن/ ضلع | | | تحصیل/ٹاؤن/زون | | | یو سی/ سیکٹر | | | وارڈ / سب سیکٹر/ موضع | | | ذیلی حلقے |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| میٹرو پولیٹن | ضلع | ٹوٹل | تحصیل | ٹاؤن/زون | ٹول | یوسی | سیکٹر | ٹول | وارڈ | سب سیکٹر/موضع | ٹول | |
| 0 | 8 | 8 | 0 | 38 | 38 | 277 | 0 | 277 | 1108 | 0 | 1108 | 3899 |
| 1 | 22 | 23 | 100 | 17 | 117 | 1316 | 0 | 1316 | 6027 | 0 | 6027 | 15175 |
| 1 | 15 | 16 | 76 | 3 | 79 | 359 | 0 | 359 | 1373 | 0 | 1373 | 3054 |
| 8 | 36 | 44 | 135 | 38 | 173 | 4260 | 0 | 4260 | 5203 | 0 | 5203 | 39327 |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 5 | 5 | 26 | 87 | 113 | 156 | 11 | 274 | 1126 |

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | 8 | | | | | | | | | | |
| 4496 | 2155 | 0 | 2155 | 457 | 0 | 457 | 55 | 5 | 50 | 13 | 12 | 1 |
| 466 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 21 | 0 | 21 | 10 | 10 | 0 |
| 2075 | 385 | 0 | 385 | 200 | 0 | 200 | 33 | 0 | 33 | 10 | 10 | 0 |
| 69618 | 16525 | 118 | 16407 | 6982 | 87 | 6895 | 521 | 106 | 415 | 124 | 113 | 11 |

**د علاقې 41 ضلعې او 1 ډویژنې دي. KPK کښې 23 ضلعې، او په بلوچستان کښې 18 ضلې او 1**

## د دعوتِ اسلامي د خدمتِ دین شعبه جات(اسلامي ورونړه)

(1) شریعه ایډوائیزري بورډ (افتاء مکتب) (2) دارُالافتاء اهلسنّت (3)جامعۃُ المدینه (4) مدرسۃُ المَدینه(5) فیضان آن لائن اکیډمي (6)خدام المَساجد والمَدارس (7) شعبه مدني کورسز (8) شعبه اصلاح برائے قیدیان (9) شعبه ائمه مساجد (10) فیضان وِیک اینډ اسلامک سکول Faizan Weekend) (Islamic School (11) المدینۃ العلمیه (اسلامک ریسرچ سینټر) (12) شعبه اوقاتُ الصلوٰۃ (Prayer Timings Department) (13) المَدینه لائبریري (14) شعبه فیضانِ مدینه (مدني مرکزونه) (15) دارُ السنه (16) شعبه فیضانِ اسلام (17)

شعبہ بین الاقوامی امور (International Affairs Department) (18) مدرسۃُ المدینہ (بالغان) (19) شعبہ عطیات بکس (Donation Boxes) (20) شعبہ اطراف علاقی (21) شعبہ کفن دفن (22) شعبہ چرم قربانی (23) شعبہ تحفظِ اوراقِ مقدسہ (24) شعبہ مدنی بستہ (Donation Cell) (25) شعبہ اورادِ عطّاریہ (26) شعبہ رمضان اعتکاف (27) شعبہ حج وعمرہ (28) شعبہ ہفتہ وارہ اجتماع (29) شعبہ مدنی مذاکرہ (30) شعبہ عُشر (31) شعبہ تقسیمِ رسائل (32) شعبہ محفلِ نعت (33) شعبہ اجتماعی قربانی (34) نیوسوسائٹیز ڈیپارٹمنٹ (35) شعبہ برائے تحفظِ رزق (36) شعبہ لنگرِ رضویہ (37) ایچ-آر ڈیپارٹمنٹ (اجارہ) (38) مدنی چینل (39) فنانس ڈیپارٹمنٹ (40) مکتبۃ المدینہ (41) ٹرانسلیشن ڈیپارٹمنٹ (42) آئی ٹی ڈیپارٹمنٹ (43) شعبہ اثاثہ جات (44) شعبہ تعمیرات (45) دارُ المَدینہ اسلامک سکول/کالج (46) دارُ المَدینہ یونیورسٹی (47) مارکیٹنگ ڈیپارٹمنٹ (48) فیضان ایجوکیشن نیٹ ورک (49) فیضان ادارہ بحالی معذوران (Faizan Rehabilitation Center) (50) سوشل میڈیا ڈیپارٹمنٹ (51) ریسرچ ٹریننگ & ڈویلپمنٹ (R&D) (52) لیگل ایڈ ڈیپارٹمنٹ (53) ویلفئیر (Welfare) ڈیپارٹمنٹ (54) شعبہ شجر کاری (Plantation) (55) لینگوئج ڈیپارٹمنٹ (56) پبلک ریلیشن شپ مینجمنٹ (PRM ) (57) ڈیٹا اینا لائٹکس ڈیپارٹمنٹ (Data Analytics Department) (58) صحرائے مدینہ ڈیپارٹمنٹ (59) سیکورٹی (Security) ڈیپارٹمنٹ (60) شعبہ مدنی قافلہ (61) شعبہ اصلاحِ اعمال (62) شعبۂ تعلیم (63) اسپیشل پرسنز ڈیپارٹمنٹ (64) شعبہ رابطہ برائے شخصیات (65) شعبہ رابطہ برائے وکلاء (66) رابطہ برائے ٹرانسپورٹ ڈیپارٹمنٹ (67) رابطہ برائے میڈیکل ڈیپارٹمنٹ (68) رابطہ برائے ہومیو پیتھک ڈیپارٹمنٹ (69) رابطہ برائے ایگریکلچر اینڈ

لائیوسټاک ډيپارټمنټ (70) شعبه رابطه برائے حکيم (71) رابطه برائےشوبز (showbiz) ډيپارټمنټ (72) شعبه رابطه برائے تاجران (73) شعبه رابطه برائے اوقاف (74) شعبه رابطه بالعلماء (75) شعبه مزاراتِ اولياء (76) ميډيا ډيپارټمنټ (نشرواشاعت، ميډيا سيل) (77) فيضانِ مرشد ډيپارټمنټ (78) رابطه برائے اسپورټس (Sports) ډيپارټمنټ (79) شعبه اِزديادِ حُب (80) پروفيشنلز ډيپارټمنټ (81) شعبه معاونت برائے اسلامي خويندې.

## د دعوتِ اسلامي د خدمتِ دين شعبه جات (اسلامي خويندې)

(1) شعبہ جامعۃُ المدينه ګرلز (2) شعبه مدرسۃُ المدينه ګرلز (3) شعبه فيضان آن لائن اکيډمي ګرلز (4) شعبه دارُالسنه ګرلز (5) شعبه فيضانِ اسلام (6) شعبه شارټ کورسز (7) شعبه بين الاقوامي امور ( International Affaires Department) (8) مدرسۃُ المَدينه بالغات (ذيلي شعبے:شعبه کورسز،شعبه مفتشات) (9) شعبه عطيات بکس (Donation Boxes) (10) شعبه کفن دفن (11) شعبه روحاني علاج (12) شعبه تقسيم رسائل (13) شعبه حج وعمره (14) شعبه هفته واره اجتماع (15) شعبه مدني مذاکره (16) شعبه محفلِ نعت (17) شعبه ماهانه ډويژن مدني حلقه (18) ايچ-آرډيپارټمنټ (اجاره) (ذيلي شعبے: طبي علاج، ټيسټ مجلس) (19) فنانس ډيپارټمنټ (20) دارُ المَدينه ګرلز (21) شعبه **مکتبۃُ المدينه** (اسلامي خويندې) (ذيلي شعبے ماهنامه فيضانِ مدينه، شپه او ورځ) (22) شعبه مدني دوره ومحارم مدني قافلې (23) شعبۂ تعليم (24) اسپيشل پرسنز ډيپارټمنټ (25) شعبه اِزديادِ حُب (26) شعبه اصلاحِ اعمال(27) شعبه رابطه (28) فيضانِ مرشد ډيپارټمنټ.

## د دعوتِ اسلامي د خدمتِ دين ځينې شعبه جات
## د سالانه کارکردګۍ تقابلي جائزې سره
### (د ستمبر 2021ء نه د اګست 2022ء مطابق)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د 80 نه زياتو شعبه جاتو کښې د دينِ متين د خدمت د پاره کوشش کوي، د کومې مدني سپرلي چې په نيوز ويب سائټ (د دعوتِ اسلامي د شپې ورځې)، مدني چينل، ماهنامه فيضانِ مدينه او مکتبۃُ المدينه (دعوتِ اسلامي) د کتابونو او رسالو په ذريعه تاسو ته در رسي. د تيريو کال د ځينې شعبو مختصر کارکردګي اوګورئ:

| مجلس/شعبه | ستمبر 2021ء | اګست 2022ء |
|---|---|---|
| جامعاتُ المدينه (للبنين وللبنات) | 891 | 1247 |
| د نارينه او زنانه طالب علمانو جامعاتُ المَدينه | 65 زره 866 | 96 زره 921 |
| فارغ التحصيل نارينه او زنانه طالب علماني | 13 زره 455 | 19 زره 501 |
| فيضان آن لائن اکيډمي برانچز | 42 | 47 |
| فيضان آن لائن اکيډمۍ نه کورسونه کوونکي | 18 زره 691 | 26 زره 843 |
| د ورو هلکانو او جينکو ماشومانومدارسُ المَدينه | 4225 | 5947 |
| د مدارسُ المَدينه زنانه او نارينه طالب علمان | 1لاکھ97زره12 | 2لاکھ62زره112 |
| ناظره پوره کوونکي نارينه اوزنانه طالب علماني | 2لاکھ94زره307 | 3لاکھ38زره998 |
| حفظ کوونکي نارينه او زنانه طالب علماني | 92 زره 47 | 1 لاکھ 942 |
| مدرسۃُ المدينه (بالغان او بالغات) | 34 زره 441 | 41 زره 732 |
| د مدارسُ المَدينه بالغين نارينه وزنانه طالب علماني | 1لاکھ96زره935 | 2لاکھ20زره 707 |

د دينِ اسلام په خدمت کښې تاسو هم د دعوتِ اسلامي مدد اوکړئ او خپل زکواة، صدقاتِ واجبه او نافله او د نورو عطياتو په ذريعه مالي مرسته اوکړئ! ستاسو چنده په څه جائزه ديني، اصلاحي، روحاني، د خير ښيګړې او د نيکئ په کارونو کښې خرچ کيدے شي.

د بينک نوم: MCB اکاؤنټ ټائټل: DAWAT-E-ISLAMI TRUST

بينک برانچ: MCB AL-HILAL SOCIETY، برانچ کوډ: 0037

اکاؤنټ نمبر: (صدقاتِ نافله) 0859491901004196 اکاؤنټ نمبر: (صدقاتِ واجبه او زکوٰة) 0859491901004197

## د دعوتِ اسلامي د مختلفو ادارو له خوا ستائينه

**مولانا حفيظ الرحمان عطّاري**

دعوتِ اسلامي يو عالمګير تحريک دے د کوم مقصد چې صحيح اسلامي تعليمات ټولې دنيا ته رَسَوَل دي. د خپل دې مقصد د پاره دعوتِ اسلامي د امن ډکه، اصلاحي، مصلحتي او د خپل مينځني هم آهنګئ لاره خپله کړې ده. د الله کريم په فضل سره دعوتِ اسلامي په خپل اِخلاص، دَردِ اُمت او د اشاعتِ دينِ مصطفٰے د جذبې په وجه ټولې دنيا ته رسيدلے دے.

دعوتِ اسلامي د ديني تعليماتو د اشاعت سره سره د خير ښيګړې په خدمتونو کښې هم وړاندې وړاندې دے. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! په ډيرو ملکونو کښې په سرکاري طور هم دعوتِ اسلامي د مختلفو ملکونو له خوا خاص طور د حکومتِ پاکستان له خوا ستائنه ميلاؤ شوې ده، په دې لړ کښې د ستائنې د

خطونو، سندونو، ایوارډونو او شیلډز په ذریعه د دعوتِ اسلامي د دیني او د خیر ښیګړې د خدمتونو تعریفونه شوې دي.

❀ په 3 جون کال 2021ء سابقه د سینیټ اپوزیشن لیډر سید یوسف رضا ګیلاني د پارلیمنټ هاؤس اسلام آباد نه د دعوتِ اسلامي د شعبې FGRF د خیر ښیګړې هلو ځلو (راشن، نقد رقم ورکولو او د تهیلیسیمیا د مریضانو د پاره په 53000 بلډ بیګز جمع کولو) باندې یو خط جاري کړو چې پکښې اووئیلے شو چې زه د دې خبرې اظهار کول غواړم چې دعوتِ اسلامي یو عالمي غیر سیاسي اسلامي تنظیم دے کوم چې په ټوله دُنیا کښې د قرآن و سُنَّت تبلیغ د پاره کار کوي او په مسلمانانو کښې د قرآنِ کریم سره د محبت او د دې په احکامو د عمل کولو جذبه هم پیدا کوي.

بل خوا FGRF د دعوتِ اسلامي یوه ذیلي شعبه ده کومه چې په ټوله دنیا کښې امدادي هلے ځلے کوي او کمزرو کورَنو ته د خوراک سامان ورکولو، نقد امداد او خاص طور د تهیلیسیمیا د مریضانو د پاره د وینې د بیګونو د بندوبست کولو په باره کښې غیر معمولي کار هم کوي. الله پاک دې د دعوتِ اسلامي د قرآنِ کریم خدمتونه قبول کړي، امین.

❀ په 17 اګست کال 2020ء د حکومتِ پاکستان له طرفه د دعوتِ اسلامي په نوم یو تعریفي خط جاري کړے شو چې پکښې اووئیل شو:

"دعوتِ اسلامي یو غیر سیاسي تنظیم دے کوم چې د قدرتي آفتونو په وخت ښه کردار ادا کوي. د وبا په ورځو کښې د دوئې خدمتونه د ستائنې وړ دي. د ضرورت په وخت د غریبانانو د پاره د راشن پیکجونو/نقد عطیاتو او د

تهیلیسیمیا د مریضانو د پاره د ویني عطیه یوه ډیرلوئے تعاوُن دے. د خلقو د بهترئ د پاره د دعوتِ اسلامي داسې کردار د وبائي مرضونو په موقع د وخت اهم ضرورت وو او حکومت دا مني.“

🌸 د کرونا وائرس نه متاثره شوي، تهیلیسیمیا او د نورو مرضونو مریضانو ته د ویني ورکولو او باران زپلو علاقو کښې د خیر ښیګړې خدمتونو په ترسره کولو باندې په اکتوبر کال 2020ء کښې د پاکستان صدر، د پنجاب وزیر اعلیٰ او د پنجاب د ګورنر له طرفه په ګورنر هاؤس کښې دعوتِ اسلامي ته ”**شانِ پاکستان**“ ایوارډ ورکړے شو.

🌸 په 25 فرورئ کال 2013ء د وفاقي وزارتِ تعلیم پاکستان له خوا یو تصدیقي خط (Confirmation Letter) جاري کړے شو چې پکښې اووئیل شو: وزارتِ تعلیم و تربیت د دې خبرې تصدیق کوي چې دعوتِ اسلامي د قرآن و سُنَّت د ټولو نه لوئے مذهبي، غیر سیاسي تبلیغي او د امن ډک تحریک دے کوم چې په ټوله دُنیا کښې کار کوي. دعوتِ اسلامي د کردار سازئ په ذریعه د اسلام په تبلیغ پوخ یقین لري.

د ژوند د نورو شعبو په شان دعوتِ اسلامي هم د خپل تعلیمي پلیټ فارمز په شان د دارُ المَدینه (اسکولنګ سسټم) په ذریعه په معیاري تعلیم ورکولو کښې ډیر غټ کردار ادا کوي.

ځکه وزارتِ تعلیم و تربیت صرف د معاشرې د پاره د دعوتِ اسلامي د صحت مند او مثبت شراکت ستائنه نه کوي بلکه د پوره حمایت اظهار کوي او د دعوتِ اسلامي د کامیابئ د پاره دُعا کوي.

❁ د دې نه علاوه په 12 اپريل کال 2018ء د وزارتِ اُمور کشمير و ګلګت بلتستان له طرفه، په 11 جنورئ کال 2016ء د وزارتِ مَذهبـي اُمور پاکستان له خوا، په 11 ستمبر کال 2006ء د وزارتِ مَذهبـي اُمور زکاة و عُشر پاکستان له خوا او په 2 جون کال 2021ء د وزارتِ خارجه له خوا د دعوتِ اسلامي د پاره په تعريفي کلماتو باندې مشتمل خطونو کښې وئيلے شوي دي چې دعوتِ اسلامي چرې هم د څه قسمه رياست مخالف يا دهشت ګردئ په هلو ځلو کښې ملوث نه ده موندلے شوې.

## د اميرِ اهلِسُنَّت پيغام د دعوتِ اسلامي والوو په نوم!

نَحۡمَدُهٗ وَنُصَلِّيۡ وَنُسَلِّمُ عَلٰى رَسُوۡلِهِ النَّبِيِّ الۡكَرِيۡم

د سګِ مدينه محمد الياس عطّارؔ قادري رضوي عُفِيَ عَنۡهُ له خوا د مرکزي مجلسِ شورىٰ اراکين، ذمه وارانِ دعوتِ اسلامي![1]

اَلسَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ

زما خوږو مدنى ځامنو او مدني لونړو! خوک چې ديني کارونه کوي، زه د هغوئي د پاره ډيرې ښې جذبې موندم، يا الله! کوم مدني ځامن چې د 12 ديني کارونو او مدني لونړه د 8 ديني کارونو د پاره کوشش کوي، د نيکو

---

1---شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په کال 1439 هجرئ کښې د حج مبارک سعادت حاصلولو نه پس دا پيغام جاري کړے وو، د موضوع اهميت مخې ته د ساتلو سره په خصوصي رساله کښې هم شاملولے شي- آفس ”ماهنامه فيضانِ مدينه“

اعمالو د رسالې مطابق د ژوند تيرولو کوششونه کوي د هغه ټولو بے حسابه بخښنه نصيب کړې او اے الله! دوئي ته بيا بيا د حج سعادت نصيب کړې، اِلٰهَ الْعٰلَمِين! د دعوتِ اسلامي دا باغ د مدينې د تل زرغون ګلونو په برکت تل زرغون کړې او چې دا دعوتِ اسلامي چې تر څو پورې مسلمانان باقي وي ديني کارونه هم دغه شان اوکړي. د مدينۀ منوَّره زادهَاللّٰهُ شرفاًوّتعظيماً نه اوس د رخصتيدو لحظې راروانې دي، الله پاک دې زمونږ د ټولو بيا بيا حج نصيب کړي، بيا بيا دې راته خوږه خوږه مدينه اوښائي تاسو ټول او ما بے حسابه اوبخښي، الله کريم دې زما او د ټولو حاجيانو حجونه قبول کړي، د مدينې حاضري مو دې قبوله کړي، امين. مهرباني اوکړئ د دعوتِ اسلامي ښه ديني کار اوکړئ، د نيکو اعمالو د رسالې مطابق ژوند تير کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! نيک، متقي او پرهيزګاره به جوړ شئ.

د جامعاتُ المَدينه للبنين، مدارسُ المَدينه للبنين استاذان صاحبان، طالب علمان، ناظمان، د جامعاتُ المَدينه للبنات، مدارسُ المَدينه للبنات استاذانې، ناظِمات، طالب علمانې، د دارُ الافتاء اهلِسُنَّت مفتيان صاحبان او د ټولو مجلسونو چې څومره هم ذمه واران دي، وابستګان دي، الله پاک دې په ټولو رحمت نازل کړي، تاسو ټول دعوتِ اسلامي وړاندې بوځئ او ډيره مخکښې ئې بوځئ، د دين په خدمتونو کښې پوره حِصّه اخلئ، د چا نه چې کيدے شي مدني مذاکره دې خامخا اوري.

د هفته وارې د سُنَّتو ډکې اجتماع پابندي ډېره ضروري ده چې دا د دعوتِ اسلامي په اوَّلین کارونو کښې ده بلکه که دې ته ورومبے ديني کار اووئیلے شي نو په دې کښې هيڅ باک نشته، داسې اوګنړئ چې د هفته وارې د سُنَّتو نه ډکې اجتماع په ذريعه په ټوله دُنيا کښې ديني کار په مزه مزه عام شو. مدني قافله خو ظاهره ده چې د ديني کارونو د ملا تير دے، د دې نه بغير هم ګزاره نه کيږي څکه ټول په مدني قافلو کښې سفر کوئ. څوک چې څومره ديني کار زيات کوي بس داسې اوګنړئ چې زما د هغوئي سره محبت زيات دے، په ديني کارونو کښې لکه چې زمونږ ژوند دے ګنې بيا اوګنړئ چې زمونږ مرګ دے، که چرې مونږه ديني کارونه پرېږدو او ارب پتيان کهرب پتيان جوړ شو نو زمونږه ژوند بالکل بے کاره دے په داسې حال کښې چې د دين خدمت پکښې شامل نه دے، الله کريم دې د آخري سلګئ پورې زمونږ نه د دين کار واخلي، الله پاک دې تاسو ټولو ته په جنَّتُ الفردوس کښې د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصيب کړي، دا ټولې دعاګانې دې ستاسو د ټولو په برکت زما د ګنهګارانو د سردار او زما د اولاد په حق کښې قبولې کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

زه وصيت کووم چې د دعوتِ اسلامي "مرکزي مجلسِ شوریٰ" چې تر څو پورې د شريعت نه خلاف حکم اونکړي د هغې اطاعت کوئ، اطاعت کوئ، اطاعت کوئ او د دې د لاندې اوسيدو سره ديني کارونه کوئ، په دوارو جهانونو کښې به کاميابي نصيب کيږي. اِنۡ شَآءَالله

## د دعوتِ اسلامي به څه کيږي!

د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه پوښتنه [1] اوشوه چې بعضې خلق دا خبره کوي چې: تر څو پورې تاسو (يعني اميرِ اهلِسُنَّت) موجود ئې تر هغې پورې به دعوتِ اسلامي روانه وي، د دې نه پس به نګران صاحبان او د اراکينِ شوریٰ خواره واره شي او بيا پته نه لګي چې څه به کيږي! د دې څه حقيقت دے؟

هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په جواب کښې اوفرمائيل: بعضې خلق دا ګنړي چې زما د مرګ نه پس به دعوتِ اسلامي ختمه شي، اِنْ شَآءَالله داسې به نه کيږي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! مونږ خپل اولاد او ټولو دعوتِ اسلامي والؤ ته د مرکزي مجلسِ شوریٰ د اطاعت کولو تاکيد کړے دے او څو ځله په مدني مذاکرو کښې او د لويو شپو په اجتماعاتو کښې دا اعلانونه هم شوي دي چې مونږ ته د دعوتِ اسلامي د مرکزي مجلسِ شوریٰ تحت د پاتې کيدو سره ديني کار کول دي، د مرکزي مجلسِ شوریٰ مخالفت نه دي کول. دعوتِ اسلامي څه دکان يا وراثت نه دے کوم چې به زما د مرګ نه پس زما په اولاد کښې تقسيميږي بلکه په دعوتِ اسلامي کښې چې څوک کار کوي هغوئي ته سلام دے. د الله پاک په فضل و کرم سره مرکزي مجلسِ شوریٰ کار کوي او دا به هم دغه شان کار کوي. مرګ د ټولو د پاره دے که چرې د چا په وفات کيدو د دين کار اودريدلے

1.... دا پوښتنه په 15 شعبانُ المُعَظَّم 1440ھ بمطابق 20 اپريل 2019ء په شوې مدني مذاکره کښې شوې وه-

نو هغه هستي د چا په برکت چې مونږ ته اسلام ميلاؤ شو يعني زمونږ د خوږ مکي مدني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهري پرده کيدو به ضرور اودريدلے وو خو د دې باوجود د دين کار اونه دريدلو نو د الياس قادري څه حساب دے! د هغوئي په مرګ به څه اوشي! څوک چې زما د پاره د دين کار کوي د نن نه د هغوئي په مخه ښه! او څوک چې د الله د پاره د دين کار کوي هغوئي دې نن هم کوي او زما د مرګ نه پس دې هم کوي، دا سوچ دې نه کوي چې الياس قادري لاړ شي نو داسې به اوشي يا د الياس قادري نه پس به څه کيږي؟ دا ټولې شيطاني وسوسې دي نو د دې نه مونږ ټولو ته بچ کيدل پکار دي. په ژوندون کښې خو هم څه کيدے شي، داسې ډير تحريکونه وي چې د هغې مشران ژوندي او صحت مند وي خو د هغوئي تحريکونه ختم شي. بهر حال دا زما وصيت دے چې زما د مرګ نه پس به هم تاسو د دعوتِ اسلامي مرکزي مجلسِ شوریٰ ته فوقيت ورکوئ، چې دا څنګه اوغواړي هم هغه شان د دعوتِ اسلامي په ذريعه د دين خدمت کول دي، د مرکزي مجلسِ شوریٰ سره چرې هم غداري مه کوئ او څوک چې د مرکزي مجلسِ شوریٰ مخالفت کوي د هغوئي ملګرتيا هم مه کوئ.

الله پاک دې د خيانت کوونکو د بد نظرئ نه زما دعوتِ اسلامي، زما دعوتِ اسلامي والا او زما خوږه مرکزي مجلسِ شوریٰ محفوظه اوساتي او دوئي ټولو ته دې د اخلاص سره د دين ښه خدمت کولو سعادت نصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں　　اے دعوتِ اسلامی تری دُھوم مچی ہو




فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ (کراچی)
UAN: +92 21 111 25 26 92 Ext: 2650 / 1144
Web: www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
Email: feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net